

په رنګونو درملنه
لیکوال: ډاکتر محمد السقاعید
ژباړن: عبدالحق ثاقب هزاراناوی
د ژباړن لنډه پېژندنه
ښاغلی عبدالحق ثاقب (هزارناوی)، د ننګرهار ولایت د مومندري ولسوالی د هزارناو د کلي اوسیدونکی دی لومړنی زده کړې یې د مهاجرت پرمهال په پاکستان کې کړې. په ۱۳۸۱ لمریز کال کې د امام ابي حنیفه له معهد څخه فارغ شوی، او لوړې زده کړې یې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې ترسره کړې. او په ۱۳۸۵ زیږدیز کال کې د عربي ژبې د ادبیاتو له څانګې فارغ شوی له فراغت وروسته یې په ګڼو غږیزو، چاپي او تصویري رسنیو کې د لیکوال او پروډیوسر په توګه کار کړی. او ګڼو سیمینارو رسنیو ته یې بېلا بېل اسلامي، تاریخي او ټولنیز سریالونه پېښتو ته ژباړلي (په رنګونو درملنه) یې لومړی کتاب دی چې له عربي یې ژباړلی او ستاسو په خدمت کې یې وړاندې کوي. نوموړي ته د لا بریالیتوبونو په هیله
روح الله مومند
Designed by: Abdul Hadi Aror
پېښور پې رنګونو درملنه
لیکوال: ډاکتر محمد السقاعید
ژباړن: عبدالحق ثاقب هزاراناوی

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د خپروندي یادښت

له ښه مرغه په دې وروستیو کې د پښتو ژبې لمنه په ژباړې او نورو هنري، علمي، داستاني او شعري ټولګو ښکلې شوې ده؛ خو لا هم په دې برخه کې ډېر نور کار کولو ته اړتیا ده، پخوا به دا شکایت ډېر کېدو چې د پښتو ژبې کتابونه د خرڅلاو لپاره بازار نه لري او همداسې وه؛ خو اوس داسې څرګندېږي چې په خلکو کې د لوست او د کتاب د رانیولو شعور پیدا او زیات شوی دی. اوس دې هر څوک یو اثر له بلې ژبې ډاډه راوژباړي یا دې خپله پنځونه وکړي؛ ځکه چې د خپرولو لپاره بېلابېلې خپروندیې ټولنې شته، چې وړ کتاب وړیا ورته چاپ او خپور کړي.

( د زنګونو رازونه ) د ښاغلي عبدالحق ثاقب د زیار پایله ده، نوموړي ورور ډېر ښه انتخاب کړی دی، چې دا په زړه پورې کتاب یې پښتو ته راژباړلی دی. په دې کتاب کې د فطرت د ټولو ښکلاګانو او رنګونو څخه پرده پورته شوې ده، هغه څه چې مونږ لیدل او یا یې وینو؛ خو د زړه په سترګو مو نه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library





کتلي او یا مو په اړه هر اړخیزه مالومات نه لرل، ددې کتاب په مرسته یې لیدلي او حس کولي شي، د زنګونو دې نړۍ کې ډېر څه شته؛ خو دا چې با احساسه او سترګور خلک کولي شي، هغه څه وګوري. په دې کتاب کې د رنګونو په ځانګړتیاو په زړه پورې خبرې شوې دي او درواني لیدلوري هم کتنه ورته شوې ده، له دې پرته چې په قران کریم کې د رنګونو په اړه څه ایتونه راغلي د هغې په اړه هم ډېر څه پکې لوستلي شئ.

پښتو کاروان د ژباړې مرکز ښاغلي ثاقب ته مبارکي ورکوي او په دې ویاړي چې ددې کتاب د چاپ سعادت یې تر لاسه کړ. لیکوال دې همداسې تاند او هڅاند وي او په راتلونکي کې ترې د نورو پنځونو هیله کوو.

درنښت

پښتو کاروان د ژباړې مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library





# رنګونه د رازونو

# او

# اسرارو دروازې

رنګونه د ښکلا ژبې او دالله تعالي د هر تخليق متبسم اًوازونه دي . كه مونږ د خپلو زړونو ، ارواوو او فكرونو جېبونه ولټوو د رنګونو د دروازو كيلي ګانې په كې موندلې او ځانونه د كمال وجمال تر درشله رسولي شو. دالله تعالي هيڅ پيدايښت او تخليق بې حكمته نه وي . د رنګونو په اړه دا كتاب دعربي ژبې پياوړي ليكوال ډاكټر محمد السقا عيد ليكلي ، پلټونكي ليكوال او مترجم ښاغلي عبدالحق ثاقب په خوږه پښتو اړولي دي . ددې كتاب د خوږې ترجمې تر لوستلو وروسته د خوشال بابا هغه بيت راياد شو چې حمزه بابا پرې مكمل كتاب ليكلي دي . بيت دادي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه هرڅه کې ننـداره دهغه مخ کړم

چې له ډېرې پیدا یې نه نا پدید شو

موږ چې هره شېبه هرځاي ناست یو او سترګې مو خلاصې وي د رنګونو یو سمندر زمونږ د نظر له مخې تیریږي . زه حیران دې ته شوم چې تر ننه ما په پتو کې داسې کتاب نه وو لیدلي چې یوه دومره عام شي ( رنګ ) ته دي له یوې زاویې کتل شوي وي . د رنګ په اړه ددې کتاب ترجمه یو رنګین کار دي چې د پښتو لوستونکي به له دې ښکلیو رنګونو سره غاړه غړی‌روان شي ، کیف او فیض به ترې واخلي . ددې کتاب خپرېدل به پښتنو لیکوالو او لوستونکو ته دداسې شیانو په اړه نوي فکرونه ورکړي چې د ژوند دنعمت په هره برخه کې وي خو زمونږ د سر او زړه سترګې پرې ړندې وي .

درنګو او ښکلا پروردګار دې دښاغلي ژباړونکي عبدالحق ثاقب زړه ، سترګې ، فکر روح و روان په داسې ښکلیو رنګونو درمان کړي چې د پښتو ژبې ساده څولۍ له رنګینیو ډکه کړي . قدرمنو لوستونکو ته ددې رنګینې ګل ګېډۍ مبارکي وایم

د مینو تښتېدلي رنــــــــګ ولاړ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا نرګـــس چې د اوبو ترڅنګ ولاړ دي**

**د سپوږمۍ سپینې سربازې پرې ورځېژه**

**دغه پورې غر له کبره دنـــــګ ولاړ دي**

**د ښاغلي ډاکتر صاحب سردار خان خوستي سره دې د خوشالۍ رنګونه ملګري وي چې د ژباړې مرکز یې پرانیستي او دپښتو خدمت ته یې ملا تړلې ده .**

**دمینې او اخلاص په ټولو رنګونو**

**پیر محمد کاروان ، کابل افغانستان**

**د جوزا** ۱۲ ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library





# تقريظ

په دې وروستيو کې د رنګونو پوهې ته پام اوښتي او د پام وړ پرمختګ په کې شوی دی، چې له امله يې پر انساني ژوند مثبت اغېز کړي دي، د انسان شخصيت ترې جوتيږي، په ډېرو وختونو او حالاتو کې د غم او ښادۍ نښې بلل کيږي، ديني او مذهبي اړخ هم لري، د بېلګې په ډول شعيه مذهبي په ځېلو مذهبي ورځو او شپيو کې د تور رنګ کارول ستر عمل ګڼي، بودايي او هندو مذهبه وګړي د ژيړ رنګ په کارولو سره د زړه سکون ترلاسه کوي، او ديني فريضه يې ګڼي، سره رنګ د کمونيزم په لومړيو کې د هر کميونسټ د زړه اواز وو، چې د همدې رنګ له امله يې يو ځانګړي نظام جوړ کړ. د اسلام سپڅلي دين کې د سپينو او شنو رنګونو ستاينه شوې ده، چې ښځينه ته د هر رنګ جامو اغوستلو اجازه ورکړې؛ خو نارينه ته يې د سره رنګ ځخه ډډه فرمايلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اروپوهنې له مخې رنګونه هغه ستر درمل دي، چې په دې وروستيو کې پرې اروپوهان باوري شوي او د ناروغانو درملنه پرې کوي، او دا توصيه کوي، چې د کيمياوي درملو پر ځای دې له رنګونو کار واخيستل شي.

هر رنګ ځانته ځانګړنې لري او د خپلو ځانګړنو له امله ځانګړې اغېزې ښندي، دا اغېزې پر انسان او د انساني او حيواناتو هم چاپيريال سره تړلي، تر دې چې پر حشراتو اغيز کوي.

د رنګونو په برخه کې پوهان کار کوي او دا لړۍ لا روانه ده او د پرمختګ لپاره يې هڅې پيل کړې دي. په دې کتاب کې د رنګونو په اړه ډېر ښکلي او په زړه پورې څېړنې يادې شوي ، او د هر رنګ ځانګړنې يې په ډاګه کړې دي.

د ژباړن (عبدالحق ثاقب) ژباړه د ستاينې وړ ده، هره برخه يې په ښه ډول راپښتو کړې ده، د ژبې د اسانوالي له امله ترې هر لوستونکي په اسانۍ ګټه اخيستې شي ، ځکه نو ، د هرې کچې لوستونکي ته ښکلې ډالۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پاي کې د ښاغلي ورور (عبدالحق ثاقب) هڅه بې بیلګې ده، له ستر څښتن تعالي څخه ورته د اوږده عمر غوښتونکي یم څو دا بیړۍ لا پر مخ بوځي ، او دا ډول ښکلې او معلوماتي ډالۍ ټولنې ته وړاندې کړي .

په مینه

واحدالله مزل، کابل افغانستان

۱۳۹۲ د جوزا لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دژباړن سریزه

الله جل جلاله هرڅه د انسان دګټې لپاره پیدا کړي ، پر انسان یې دا ستر نعمت کړي چې ورته یې فکر ، عقل او پوهه ورکړې . د همدې له برکته انسان دالله جل جلاله په مخلوقاتو کې فکر، پلټنه ، او بالآخره پرمختګ کوي او ورته له دې تابع شوې نړۍ ګټه اخلي .

رنګونه ددې نړۍ په طبیعت کې دالله له سترو نعمتونو څخه شمېرل کیږي ، د انسان ژوند ښکلي کوي ، او له مینې او خوشالۍ یې ډکوي. موږ چې په دې نړۍ کې هرځای ته په هر مهال کې ځو ، چاپېره مو بېلا بېل رنګونه تر سترګو کیږي . د رنګونو ژبه هغه نړیواله ژبه ده چې په فطري ډول وربانـدې ټول خلک پوهیږي ... د کور ، کار ، لارو کوڅو ، اعلانونو ، جامو ، ځنګلونه او ... ډول ډول رنګونه زموږ ذهنونو ته ډول ډول پیغامونه راستوي . خلک د ژوند د چارو په پرمخ بیولو کې ټول له رنګونو سره چلند کوي ، درنګ له ټاکنې وړاندې یو څه تم کیږي ...کله چې د ټوکر په یوه هټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library





کې ځان ته جامې رانیسي ... کله چې د کور د رنګولو لپاره رنګ ټاکي ... کله چې ځان ته موټر پیري ... کله چې ځان ته دفتر جوړوي ... او ... خو دا ټاکنه په ناڅاپي توګه نه کوي ، بلکې هغه څه رانیسي چې رنګ یې ځان ته ورجلب او زړه یې ونیسي ...

خلک ، ځینې یې یو ډول رنګ ، او ځینې یې بل ډول رنګ خوښوي ... خو ددې لامل ته یې شایې ډیریو پام نه وي کړي . خو د بریتانیا پوهان دې ټکو پوره پاملرنه کړې ، هغوی دا کشف کړې چې د انسان جسم ډول ډول رنګونو ته اړتیا لري ، او دا کار دهغوی پر جسمي او ذهني کړنو شکاره اغېزې کوي . دوی زیاتوي ، چې له جسمي سترړیا څخه نیولې ، او تر سرطاني ناروغیو پورې درملنه په رنګونه درملېداي شي .
او همدا لامل دي چې دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې په رنګونو د درملنې په برخه کې متخصص رنځورپالان شتون لري .

په نړۍ په ډېري روغتونونو کې متخصص ډاکتران د رنګونو متخصصین راغواړي ، او غوښتنه ترې کوي چې د رغتون

(c) ketabton.com: The Digital Library





دېوالونه په هغو رنګونو ورنګوي چې د ناروغانو په درملنه کې ډېر رول ولري .

پوهان وايې چې ، رنګ د انسان پر شخصيت (کرکټر) دلالت کوي ... د اروا پوهنې عالمان وايې : ته راته ووايه چې کوم رنګ دې خوښيږي ... مخکې له دې چې د ځان په اړه دې نور څه ووايې ، زه به درته ووايم چې ته څوک يې !!

په رنګونو درملنه هغه علم دی چې ښايې د ډېري خلکو ورته پام نه وي ، په دې کتاب کې په رنګونو د درملنې په اړه هر اړخيزه تجربې ، څېړنې او نظريات ښودل شوي ، کيداي شي دا کتاب ډېريو ته نوي وي ، او ډېريو نورو ته د معلوماتو د زياتوالي ښه توخه وي .

دا چې د اسلام سپېڅلي دين د رنګونو په اړه څه ويلي ؟ د قيامت په ورځ به د خلکو رنګونه څنګه وي ؟ په رنګونو د درملنې لارې کومې دي او کوم رنګ د کومې ناروغی لپاره غوره درمل دی ؟ دا او دېته ورته نور موضوعات په پوره څېړنه او تجربو په دې کتاب کې ياد شوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګـران ورور واحـدالله مـزل چـې د نـورو ژبـاړو ترڅنګ يـې د کرنې او اقتصاد په برخه کې يو شمېر مسـلکي کتابونـه راپښتو کړي ، او تل يې همدا هڅه وي چې خپلـې ټولنـه پـه معلومـاتي کتابونو ونازوي ، مننه ترې کوم چې له خپلو ګڼو مصـروفيتونو سـره يـې ددې کتـاب کتنـې تـه وخـت ورکـړ ، او د سـمونې پـه برخه کې يې راسره مرسته وکړه .

د هېـواد تکـړه او وتلـي شـاعراو ليکـوال ښـاغلي پيـر محمـد کاروان څخه هم د زړه له کومې مننه کوم ، چې سره د ډېرو کارونو يې زما کتاب له پيله تر پايـه وکاتـه ، ځينـې سـمونې يـې ورکې وکړې ، او ژبه يې ورته لا ساده کړه .

دا کتاب ټولو لوستونکو ته پـه مينـه ډالـۍ کـوم . او هيلـه تـرې کوم چې ، تر لوستلو وروسته يې ، خپل ملګري ته ډالۍ کړي .

په درنښت

عبدالحق ثاقب (هزارناوی)

کابل افغانستان

۱۳۹۲ د ثور ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د لیکوال سریزه

د رنګونو په سمندر کې د رنګونو رازونه لا پټ پاتې دي ، او د راسپړلو لړۍ یې لا پای ته نه ده رسېدلې . تر دې دمه د رنګونو په اړه ډېرې څېړنې شوې او په پایله کې یې یو لړ حیرانوونکي لاسته راوړنې په لاس راغلي . اروا پوهان په دې ټینګار کوي چې د یو انسان د خوښې رنګ دهغه پر شخصیت دلالت کوي . خو بیا رنځورپوهان له دې هم وړاندې تللي ، او دا یې ثابته کړې چې شنه زرغونه، سره زرغونه او ژېړ رنګونه ( کمان رستم ) دهغو خطرناکو ناروغیو درملنه کوي چې نور درمل یې په درملنه کې پاتې راغلي ...... دا سمه ده چې هره ناروغي درمل لري ، خو دا هم یو څرګند حقیقت دي چې ډېرې ناروغۍ بیا له کیمیاوي درملو پرته نور ډول ډول درمل لري ..... په دې لیکنه کې به دا موضوع وڅېړل شي .

په رنګونو د درملنې په پایله کې د انسان په بدن کې د رنګ د انرژیو او د سرابي ( سپک ) جسم د جوړښت ( ترکیب ) ترمنځ طبیعي توازن رامنځته کیږي . دا توازن هغه وخت رامنځته کیږي چې د رنګونو غبرګونونه ( انعکاسات ) په سمه توګه د بدن هغو سیمو ته ورسیږي چې نور بدن په فعالیت

(c) ketabton.com: The Digital Library





راولي ، دا په دې مانا چې د رنګ د رسېدو په پایله کې د بدن دا سیمې پر دې توانیږي چې د انسان په مادي جسم کې د ژوند وړتیاوې ( استعدادونه ) ، سیک ، ځواک او انرژي راپیدا او ګرندی کړي .

انسان سرابو ته ورته جسم لري ، دا جسم سپک او د وړانګو په څېر وي، او د انسان پر مادي جسم چاپېر او دهغه په حجرو کې شتون لري، د انسان دا ډول سپک او سرابي جسم دنده لري چې له فضا څخه د سپین رنګ انرژي راکش او بیا یې په بدن کې د رنګ پر بنسټیزو انرژیو وویشي، له دې وروسته دا انرژی د بدن مختلفو برخو ته رسیږي او د بدن هرې برخې ته له رسېدو وروسته په انسان کې د ژوند وړتیا او فعالیتونه ګرندي کوي.

سرابي یا سپک جسم چې په مادي جسم باندې مستقیمې اغیزې لري ، که د سرابي جسم درملنه د رنګونو د وړانګو په واسطه ترسره شي ، هم دا شونتیا زیاته ده چې دا ډول اغېزې رامنځته کړي او د انسان په مادي جسم کې ځواک او فعالیت راپیدا کړي. ځکه چې په سرابي جسم کې بدلون او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې هر ډول اغېزې په مادي جسم مستقيمې اوښكاره اغېزې لري .

دا چې نن موږ په يويشتمه پېړۍ كې ژوند كوو ، د متخصصينو رنځورپوهانو مشوره هم داده چې له ډېرې اړتيا پرته دكيمياوي درملو له استعمال ډډه وكړو، ځكه كيمياوي درمل ډېري وختونه جانبي عوارض هم له ځان سره لري، نو پر ځاى ددې چې د سر د درد لپاره له ( اسپرين ) څخه كار واخلو ، يا دوينې د فشار درملنه په كيمياوي درملو وكړو، نو ښه خبره داده چې دا درملنه د رنګونو په څېر په داسې لارو چارو وكړو چې هيڅ جانبي عوارض ونه لري ...

دا سمه ده چې هره ناروغي درملنه لري ، خو له كيمياوي درملو پرته هره ناروغي نورې درملنې هم لري ..... دا نه وايو چې هره ناروغي درمل لري ، بلكې هره ناروغي د درملنې لپاره ځانګړي رنګ لري .

ډاكتر محمد السقا عيد

دمياط

دوشنبه، ۱۴ فروري، ۲۰۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ډاکتر سمیر البهواشي وایې : الله جل جلاله د انسان په بدن کې داسې توکي ، وړانګې اود بریښنا څپې پیدا کړي چې، له جهاني وړانګو او برقي میقناطیسي څپو او د رنګونو خوځېدنې او رپېدا سره پوره ورته والي لري .او هر انسان ځانته جلا وړانګې لري ، دا وړانګې د ګوتو او سترګو د نښو په څېر ددوه انسانانو یو ډول نه وي، بلکې له یو بل سره توپیر لري . دا وړانګې د څپو په اوږدوالي ، غبرګون ( انعکاس) او رپېدا کې له نورو سره توپیر لري او د هر انسان وړانګې د بل انسان د وړانګو په څېر نه وي. هر انسان نرۍ او نورو انسانانو ته خپلې ځانګړې وړانګې لېږدوي او له نړۍ او نورو انسانانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې وړانګې اخلي، کله چې دا وړانګې سره نږدې والي او يو څه ورته والي ولري ، نو په پايله کې يې ددوه انسانانو ترمنځ مينه، محبت او د ملګرتيا فضا رامنځته کيږي، او کله چې دا وړانګې سره ليرې او هيڅ ډول ورته والي ونه لري ، نو بيا يې پايله هم بدله وي .

رنګ له وړانګې لرونکي انرژۍ څخه عبارت دي، دا وړانګې په ټاکلې اندازه د څپو اوږدوالي لري، او د سترګو شبکيه (retina)[1] چې رڼا راکشوي او بيا يې مغزو ته لېږدوي ، دا وړانګې رنګونو ته ترجمه کوي.

د سترګو په پرده يا شبکيه کې درې رنګونه شتون لري چې، عبارت دي له زرغون (شين)، سور او آسماني رنګ څخه ،او ددې درېو رنګونو له اختلاط او يوځاې کېدو څخه نور رنګونه جوړيږي .

کله چې د رڼا انرژي زموږ بدن ته ننوځي ، نو سمدلاسه نخامي غده[2] او سرابې جسم راپيداروي او په بدن کې

[1] د سترګې شاتنۍ برخه، دا برخه رڼا ترلاسه کوي او بيا هغه څه چې سترګه يې ويني دهغې انځور مغزو ته ليږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





هورمونونه افرازوي، د هرمونونو د افرازېدو په پایله کې زموږ په بدن کې یو شمېر فزیولوژیکي (تشریحي) عملیات رامنځته کیږي .چې په پایله کې د رڼا داخل شوې انرژي زموږ په فکر(اند) ،مزاج او سلوکو کې بدلون رامنځته کوي .

د حیرانتیا خبره خو لا داده چې رنګونه پر هغو کسانو هم اغېزه لري چې لیدل نه شي کولي . او لامل یې هم دهغو انرژیو غبرګون دي چې دهغوي په بدن کې تولیدیږي. لرغونو چینیانو هم د نارغیو په درملنه کې دا نظریه پر مخ بیوله چې د (فینج شوي) په نامه یادیږي. او همدا راز فرعونیانو هم په اهرامو کې دننه د میکروبونو د مخنیوي،د باکتریاوو د وژلو او د مومیایي ساتلو په موخه د (زرغون نه اًخوا) رنګ څخه کار اخیست.

[2] نخامي غده هغه غده چې د ماغزو په لاندي برخه کې موقعیت لري وي او د هرمونونو د تولید په پایله کې د وجود په وده کې اغېزه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# څېړنې او تجربې

د پوهانو یوې ډلې ځینې داسې وسایل کشف کړي چې له مخې یې ټول هغه نفسي یا جسمي غبرګونونه ثبتوي چې د رنګونو د اغېز په پایله کې له انسان څخه صادرېږي. له دې وسایلو په څخه په استفادې سره دا مالومه شوه چې هر رنګ پر انسان بېلا بېلې اغېزې لري، نو کله چې د انسان د زړه ټکان تېزیږي، د سترګو جېرمې ( ځېرمې ) یې په تناوب سره خلاصیږي او بندیږي، او په ورغوي کې یې د لندبل (رطوبت او زیاتو خولو په پایله کې د برق د تولید او تودوخې (حرارت کچه لوړیږي ، او هغه چې زموږ د مغزو د فعالیت توپیر په ګوته کوي ، دا ټول هغه څه دي چې پر انسان د رنګونو د اغېزو په پایله کې رامنځته کیږي .

ځینو څېړنو ددې موضوع په اړه مهمې پایلې لاسته راوړي ، په ۱۸۷۸ میلادي کال کې ساینس پوه ( ډي . بي . ګاډیالي ) هغه علمي مبادي کشف کړل چې له مخې یې دا روښانه کړه چې ولې او څنګه د رنګونو وړانګې د درملنې په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزمنې دي ؟ او د رنګونو مختلفې وړانګې دانسان د مختلفو ناروغيو لپاره څنګه درملنه ده ؟

په ۱۹۳۳ زيږديز کال کې يې له څو کلونو څېړنو وروسته د کمان رستم (رنګين کمان) د رنګونو د پرتلنې په اړه يوه موسوعه ( دايرة المعارف ) خپره کړه. دا دايرة المعارف په رنګونود درملنې په برخه کې ډېره ارزښتناکه ګڼل کيږي .

په رنګونو دعلاج په برخه کې چې کوم نظريات رامنځته شوي ، ټول د ګاډيالي له نظرياتو سرچينه اخلي .

هر ژوندي ژوي او د انسان د بدن هر نظام ځانګړي رنګ لري، دا رنګ د پارونې او تحريک دنده په غاړه لري، خو له بل پلوه ځينې نور رنګونه هم شته چې د بدن له همدې غړي او نظام فعاليت له خنډ او ځنډ سره مخامخ کوي او فعاليت يې کمزوري کوي .

کله چې يو انسان د رنګونو په ارزښت او دهغې پر اغېزو او ګټو پوه شي ، کولي شي د ځان لپاره مناسب او د اړتيا وړ رنګ وټاکي ، په دې کار سره به هغه پر دې وتوانيږي چې په بدن کې له کاره لوېدلي غړي بيا په فعاليت راولي او يا د بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغو نظامونو کې توازن لاسته راوړي چې له لاسه يې ورکړي وي .

هغه انسانان چې په بنه او سم حالت کې ژوند کوي، د هغوی لپاره اړينه ده چې بايد د بدن دننه د رنګونو د انرژيو ترمنځ توازن وساتي . او هر کله چې دا توازن له منځه لاړ شي نو په ناروغۍ اخته کيږي .

دانسان په بدن کې دوه عمليې تل په کار بوختې دي ، يوه يې د جوړونې عمليه ده چې د غذايي توکو د جذبولو او حل کولو دنده په غاړه لري ، او بله يې د ويجاړونې عمليه ده چې دبدن په حجرو کې د ويجاړتيا دنده په غاړه لري .

لومړۍ عمليه د جوړونې او سمونې عمليه ده ، دا په داسې حال کې چې دويمه عمليه د لومړۍ عمليې برعکس دنده پر مخ بيايي. دا عمليه له بدن څخه زهرجن توليدات او ناولتوب له منځه وړي.

خو کله چې يو انسان د دواړو عمليو ترمنځ توازن ته پام وکړي او تناسب يې وساتي، نو هغه له بنې روغتيا څخه برخمن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library





،دا دواړه عملیې په ګډه میتابولیزم3 تشکیلوي ، چې دا بیا دهغو عملیاتو ټولګه ګڼل کیږي چې د پروتوپلازما 4 له جوړنې او ویجاړولو سره تړاو لري .

ګاډیالي دې پایلې ته رسېدلي چې سور رنګه وړانګې د جوړونې یا سمونې وړانګې ګڼل کیږي ، دا په دې مانا چې سرې وړانګې په بدن کې د وینې سره کرویات زیاتوي او ینه رابیداروي. دا په داسې حال کې ده، چې بنفشه یي وړانګې چې توري فعالوي ، ویجاړوونکې او لړزوونکې وړانګې ګڼل کیږي.

ګاډیالي دا هم کشف کړې،چې توري د وینې پخوانې سره کرویات له منځه وړي او پر ځای یې د وینې سپین کرویات تولیدوي چې بیا له بکتریاوو سره جګړه کوي او مخه یې نیسي.

سور رنګ چې د انسان په بدن کې د ینې فعالیت ګړندي کوي، په کمان رستم کې د رڼا یوې خواته موقعیت لري ، دا په

---

[3] میتابولیزم د انسان په بدن کې کیمیاوي پروسه ده ، په ځانګړې توګه هغه پروسه چې غذایي مواد د بدن د لویولو او ورته د انرژي ورکولو لپاره کار کوي .

4 پروتوپلازما د ژوندیو حجرو دننه رڼه او شفافه مایع ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې ده چې بنفشه يي رنګ چې د توري فعاليت ګړندي کوي د کمان رستم په بله خوا کې ځاي لري . د يادونې وړ ده چې بنفشه يي رنګ ( نخامي غده ) فعالوي او لا يې ګړندی کوي. دا له پخوا راهيسې يو پېژندل شوي حقيقت دي چې نخامي غده د انسان په بدن کې مرکزي غده ګڼل کيږي او نورې ټولې غدې له همدې تنظيميږي. نو په دې اساس، ويلي شو چې دا غده د بدن د هرې برخې په کار باندې اغېزې لري .

د جرمني يو ساينس پوه (مندل) هم په ۱۹۸۰ زيږديز کال کې يوه ساينسي ( دايرة المعارف ) وليکله ، په دې کې يې بنسټيزو رنګونو ته نغوته ( اشاره) کړې ، نوموړي له هغو رنګونو هم يادونه کړې چې نور رنګونه پوره کوي، ددې ترڅنګ په دې کتاب کې يې د بېلا بېلو وسايلو په مرسته د رنګونو په واسطه د درملنې څرنګوالي هم ښودلي دي. دا وسايل په رنګينو وړانګو باندې د طبيعي درملنې وسايل بولي. نوموړي ساينس پوه د درملنې لپاره شپږ بنسټيز رنګونه په ګوته کړي چې عبارت دي له : سور ، ژېړ،آسماني، نارنجي، زرغون او بنفشي رنګونو څخه .

(c) ketabton.com: The Digital Library





نويو څېړنو ښودلې ، چې له رنګونو څخه په سمه توګه استفاده کول انسان سره د زده کړې او د حافظې په غښتلتيا کې مرسته کوي ، دا په دې مانا چې د انسان د زده کړې ، پوهې او د حافظې وړتيا له ۵۵٪ څخه ۷۸٪ ته پورته کوي .

په سان ډياګو کې هم په ۱۹۸۲ زيږديز کال کې د رنځورپالنې ( نرسينګ ) په يوه پوهنځي کې هم په رنګونو د درملنې په برخه کې يوه تجربه ترسره شوه . په دې تجربه کې نږدې شپېته مېرمنې چې په روماتيزم ناروغۍ اخته وې، د پنځلس دقيقو لپاره آسماني رنګه وړانګو ته وړاندې شوې، چې په پايله کې د پخوا په پرتله دهغوي د مفصلونو درد په زياته کچه راکم شو. نو ددې تجربې څخه جوتيږي چې د آسماني رنګ وړانګې په روماتيزم له اخته ناروغانو سره مرسته کوي ا و د مفصلونو د درد په راکمولو کې مهم رول لري .

يوه بله څېړنه چې په ۱۹۹۰ زيږديز کال کې ترسره شوه ، په دې تجربه کې د سور رنګ وړانګې د هغو ناروغانو سترګو ته واچول شوې چې له نيم سيري ناروغۍ يې سر ټکاوه، ددې وړانګو د استعمال په پايله کې ۹۳ ٪ ناروغان ښه شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library





ساینس پوهان د څېړنې په پایله کې دې ته ورسېدل چې سور رنګ د وینې شریاني فشار لوړوي او د وینې رګونه پراخوي .

همدا راز څېړنو ښودلې چې رنګونه د تودوخې ددرجې په لوړوالي او ټیټوالي کې هم رول لري، او په څومره اندازه چې رنګ بدلیږي په هغومره اندازه ورسره په تودوخه باندې زموږ احساس هم توپیرکوي. په دې اړه په (ناروې) هېواد کې هم ځینې تجربې ترسره شوي، تجربو ښودلې چې کله څوک په داسې خونه کې ناست وي چې په آسماني رنګ باندې رنګ شوي وي، نو هغوی ښایې دېته اړ شي ترڅو د خونې د ګرموالي لپاره یو څه اقدام وکړي او خونه تر درې درجو پورې نوره هم ګرمه کړي. خو بیا هغه کسان چې په سور رنګ ، رنګ شوې خونه کې ناست وي، هغوی نه دي اړ ترڅو د خونې د لا زیات ګرموالي لپاره کوم کار ترسره کړي. نو له دې مالومیږي چې آسماني رنګ د سور رنګ په پرتله یو څه یخ دی ، او موږ ته د یخوالي احساس راکوي .

ددې ترڅنګ نورو څېړنو ښودلې چې د رنګونو تتوالي، سپکوالي او ټینګوالي د وخت په دقیق مالومولو کې هم اغ بزه لري، همدا راز زموږ د حافظې په وړتیا هم تاثیر کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډنمارک یو ساینس پوه ( نیل فنسین ) د ننکیو ( دانو ) د درملنې لپاره سره رڼا وکاروله، او تجربو ښودلې، چې سور رنګ د بنفش نه اَخوا ( ماوراء بنفش ) وړانګې دې ته نه پرېږدي، چې د ناروغ پوستکي ته ننوځي. او همدا ډول سور رنګ د پوستکي د بې ډوله کېدو او خرابېدو مخه هم نیسي.

د لمر رڼا دا وړتیا لري چې د پوستکي لاندې د ( ډي ) ویټامین تولید کړي. خو کله چې د انسان هډوکي نرم وي نو په هغه کې ددې ویټامین کچه ټیټه وي. او د ( ډي) ویټامین د هډوکو په جوړولو او پیاوړي کولو کې تر بل هر څه مهم رول لري .

د امریکا متحده ایالاتو د ( بوسټن ) په طبي مرکز کې د پوستکو متخصصینو دا ثابته کړې ، چې په زیاته کچه د اَسماني وړانګو استعمال کولي شي له پوستکي څخه ګونجې لیرې او ورته په زیاته اندازه تازه ګي ورکړي، دا ډول وړانګې د انسان مخ ته ښکلا او ځلا وربخښي .

د پوستکو یا د جلدي ناروغیو متخصصینو د یوې بلې څېړنې په ترڅ کې دا ثابته کړې، چې اَسماني رنګ د مخ د پوستکي د سرطان غوره درمل دي، دا رنګ له پوستکي څخه ګونځې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکې،نسواري رنګه خاپونه لیرې کوي او پوستکي ښکلي کوي. خو پوهانو دا روښانه کړې، چې آسماني رنګ رڼا له یو ځانګړي محلول سره فعالیت کوي، او بیا وروسته دا محلول پر مخ کېښودل کیږي، دا محلول له مخ څخه داغونه د شپاړسو دقیقو په ترڅ کې ختموي ، او د یوې اوونۍ په اوږدو کې یې ورو ورو مخ رغیږي او داغونه یې په بشپړه توګه له منځه ځي .

د بوستن دطبي مرکز پوهان وایې، چې ویجاړې شوې حجرې د آسماني رنګ د استعمال په مقابل کې مقاومت نه لري ، نو ځکه آسماني رنګ دا ډول ویجاړې شوې حجرې د یوې اوونۍ په ترڅ کې له منځه وړي او له مخ څخه یې جلا کوي او پر ځای یې نوې او روغې حجرې رامنځته کوي. پوهانو دا هم روښانه کړې چې ددې پایلې ښایې د لیزر په واسطه د درملنې په څېر نه وي، خو توپیر یې دادي چې ددې په واسطه د مخ د داغونو درملنه په کمه موده کې کیږي ، خو بیا هم د آسماني رنګ په واسطه درملنه کول د لیزر بدیل کېداي شي او ښایې له لیزر څخه هم دا طریقه غوره وي، ځکه دا طریقه ډېره آسانه ، ساده او کم دردە ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو ښودلې چې د بوډاتوب او زړښت ضد، دا درملنه ډېر لګښت ته اړتیا لري، دا په دې مانا چې یو ځل ددې د استعمال بیه ۸۰۰ ډالرو ته رسیږي .دا چې دا طریقه نوې ده ، نو ځکه یې نورې پایلې هم نه دي روښانه .

.................



رنګونه یوازې پر انسانانو اغېز نه کوي ، بلکې د رنګونو اغېزې له دې هم پراخه دي، رنګونه پر ژویو او بوټو هم اغېز ښندي. تجربو ښودلې ، کله چې پر چرګه مصنوعي رنګینه رڼا متمرکزه شي، نو له معمول څخه هګۍ ژر اچوي.

همدا رنګه سور رنګ د ځمکې چینجي ځان ته ډېر جلبوي، هغه ځاي چې سور رنګ ورکې زیات وي ښایې هلته ډېر چینجي پیدا شي . چک وهونکي حشرات سور، نارنجي او ژېړ رنګونه ډېر خوښوي ، او له آسماني، بنفشي او زرغون رنګونو څخه تښتي، دا په داسې حال کې ده ، چې مچان له آسماني رنګ پرته نور ټول رنګونه خوښوي ، او همدا لامل دي ، هغه خونې چې پر آسماني رنګ رنګ شوي وي مچان ترې تښتي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## بوټي :

کېداي شي رڼاګانې د بوټو رنګونه هم بدل، او په وده او لوییدو کې ورسره مرسته وکړي، او ښايې رڼاګانې د بوټو د لوییدو مخه ونیسي.

ځېړنو ښودلې چې بنفشه يي رڼا د انګورو د تاکونو په ژر لوییدو کې مرسته کوي ، او سره رڼا د غلو دانو او حبوباتو په ژر رسېدو کې مرسته کوي،دا په داسې حال کې ده چې سور،نارنجي او ژېړ رنګونه د کوچنیو حجرو په وده کې مرسته کوي، خو له بل پلوه بیا زرغون،آسماني او بنفشه يي رنګونه ددې حجرو وده کمزورې کوي او ژر لوییدو ته يې نه پرېږدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د درملنې طریقه

په رنګونو درملنه د نفسي او جسمي ناروغیو د درملنې یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي . پوهان په دې اند دي، چې هر ژوندي ژوي په خپل بدن کې بریښنایي مقناطیس ( کهرومغناطیس ) لري، د ژوندیو ژویو په بدن کې ددې حالت شتون هغوي ته دا وړتیا ورکوي، چې رڼا راکش او د رنګین کمان رنګونو ته یې وویشي، دا رڼاګانې له سور رنګ څخه نیولې تر بنفشه یې رنګونو پورې ټول ځان کې رانغاړي .

ددې ترڅنګ پوهان دې پایلې ته ورسېدل چې د بدن مختلفې حجرې خپلې اړتیاوې د رنګین کمان له رنګونو پوره کوي. او په پایله کې همدا رنګونه ددې لامل ګرځي، چې بدن ته رغښت او جوړښت وروبخښي او بیالوژیکي وړتیا یې غښتلې کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدن لکه څنګه چې خوراک او څښاک ته اړتیا لري ، همداسې د بدن ټولې حجرې هم رنګونو ته بیالوژیکي اړتیا لري، دا په دې مانا چې کله دبدن حجرو ته په کافي اندازه د رنګونو وړانګې ونه رسیږي او لیرې ترې پاتې شي، نو د بدن حجرې کمزوري کیږي او بالآخره په ناروغی اخته کیږي . ددې حالت په پایله کې د انسان پر بیالوژیکي کړنو هم اغېز پرېوځي.

دا ټول هغه واقعیتونه دي چې د تجربو په پایلوکې لاسته راغلي . ناروغ ته چې څنګه نور کیمیاوي درمل یا خواړه ورکول کیږي ، نو په کار ده چې ددرملنې په موخه له رنګ څخه هم په هغومره اندازه ګټه پورته کړي . لکه څنګه چې یادونه وشوه په رنګینو وړانګو د ناروغیو درملنه ددرملنې مهم ډول پېژندل شوي .

رنځورپوهان د ناروغانو د درملنې لپاره بېلا بېل وسایل په کار اچوي، ځینې وختونه په رنګینو ټوټو یا دسمالونو باندې ناروغان پوښي، او ځینې وختونه د ناروغانو د بدن په مختلفو برخو باندې رنګینې رڼاګانې وراچوي یا پرې ځانګړې رنګونه متمرکز کوي. او یا یې دبدن مختلفې برخې په رنګینو تیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library





باندې موښي، او یایې په جامو (کالیو ) کې مختلف رنګونه ورزیاتوي .

ددرملنې دا طریقه چې د امریکا د اعصابو رنځورپوهانو په کار اچولې، باید د رنګینو رڼاګانو دمتمرکز کولو له لارې ترسره شي.که دا رڼاګانې څو ځله د شلو دقیقو لپاره په سترګو باندې متمرکزې شي نو په پایله کې دا رڼاګانې د سترګو هغه حجرې چې رڼا راکشوي ، په فعالیت راولي . چې له همدې لارې بیا دانسان په عصبي سیستم کې توازن رامنځته کوي او پر انسان یې اغېزې راښکاره کیږي .

پوهان په دې اند دي ، که دا طریقه ناروغي په بشپړه توګه ونه رغوي ، خو په ټولیز ډول د ناروغ د اروائي حالت په ښه کولو کې ډېر رول لري. د بېلګې په توګه، رنګونه د انسان پام ځان ته اړوي او اروائي حالت یې بدلوي او په ماشومانو کې د سرزورۍ د حالت کچه راټیټوي. همدا راز په دې طریقه د رنګونو کارونه په سرطان اخته ناروغانو ته یو ډول اروائي راحت او ذهني سکون ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ځینو خوړو له لارې درملنه

پـه دې وروسـتیو کلونـو کـې پوهـانو د بوټـو د رنګونـو  پـه اړه څېړنې وکړې، او دې پایلې ته ورسـېدل چـې د بوټـو دا رنګونـه یا د رنګـ دغه مادې له طبیعي کیمیـاوي جوړښتونو (ترکیبونـو) څخه عبارت دي ، او د بدن لپاره ډېرې ګټې لري .

د بوټو د فیزیولوژي استاذه ډاکتره رئیفة احمـد حسین وایـې:

(( یوازې دا مهمه نه ده چې مېوې او سابه مختلـف ویټامینونـه لکـه A ویټـامین، B ویټـامین ، C ویټـامین او یـا داسـې نـور ویټامینونه لري، بلکې په دې اړه څېړنو ښودلې چې په مېوو او سابو کې نور غذایي جوړښتونه او توکي هم شتون لـري ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ویټامینونو په اغېز او کار کې ورسره مرسته کوي او د بدن لپاره ډېر ګټور دي . ))

(بایالافینویډز،انتوسیاسینین،کاروتینویډز،پولیفینول او ایسوفلافینویډز ) هغه غذايي توکي دي چې په مېوو او سابو کې شتون لري او د ویټامینونو کار او اغېز بشپړوونکي دي.



مېوې او سابه ځینې یې تور ، ژېړ، زرغون او داسې نور مختلف رنګونه لري ، لکه څنګه چې یادونه وشوه په مېوو او سابو کې د ویټامینو ترڅنګ ځینې نور غذايي توکي هم شتون لري ، ددې موادو لاندې د مختلفو رنګونو توکي (مواد ) پراته دي چې سابو او مېوو ته مختلف رنګونه ورکوي. لکه په رومیانو کې د سور رنګ توکي چې رومیانو ته سور رنګ ورکوي،په ګازرو کې نارنجي رنګه ماده ،په ژېړو مرچکو د ژېړ رنګ ماده،په بانجانو کې د اًسماني رنګ ماده، همداسې تور انګور او اینځر،یا د چایو تور او یا هم نسواري رنګونه.دا ټول رنګونه د بدن لپاره ډول ډول روغتیایي ګټې لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## په لمر وهلو اوبو او تېلو باندې درملنه :

دا هم په رنګ باندې د درملنې یوه بله طریقه ده ، په دې طریقه کې اوبه په یوه رنګین بوتل کې اچول کیږي ( کوم رنګ چې ورته اړتیا وي ) د بوتل سر ترل کیږي او د اوړي په موسم کې د دوو ساعتونو لپاره لمر ته ایښودل کیږي، دا چې په ژمي کې د لمر تودوخه یو څه کمه وي ، نو د ژمي په موسم کې بیا دا بوتل ټوله ورځ لمر ته ایښودل کیږي. کله چې اوبه لمر ووهي بوتل بیا په یخچال کې کېښودل کیږي او له هغې وروسته یا څښکل کیږي، یا پرې اغېزمن ځای موښل کیږي. او غوره خبره داده چې دا اوبه د پنځو ورځو لپاره استعمال شي او له هغې وروسته بیا له سره په همدې طریقه اوبه په بوتل کې واچول شي او لمر ته کېښودل شي. دا هم شونې ده چې تېل په یوه رنګین بوتل کې واچول شي او لمر ته کېښودل شي . او بیا وروسته پرې اغېزمن ځای غوړ او وموښل شي .

غواړم دلته یوې خبرې ته اشاره وکړم ، هڅه وکړئ چې له پلاستیکي بوتل څخه استفاده ونه کړئ ، ځکه کېدای شي د تودوخې له زیاتېدو سره د ( پولي اتیلین ) ماده په اوبو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





يوځه راويلې شي او ښايې د ځينو روغتيايي ستونزو لامل وګرځي. که د اړتيا وړ رنګ بوتل مو پيدا نه کړ، نو کېداي شي يو روڼ (شفاف) شيشه يي بوتل راواخلئ او د خپلې اړتيا وړ رنګ پلاستيک ترې تاو کړئ او د ربړ په واسطه يې ونښلوئ. او بيا يې لمر ته کېږدئ ، تاسو کولې شئ چې په بوتل کې لمر وهلې اوبه يا وڅښئ او يا پرې ځان وموښئ، او يا هم په يو وخت کې يې هم وڅښئ او هم يې پر ځان وموښئ. خو پام مو وي چې تاسو څومره اړتيا لرئ هغومره ګڼه ترې واخلئ.

## د رنګينې رڼا متمرکز کول:

په دې طريقه کې د رڼا له يوې سرچينې کار اخيستل کيږي، دا يو ځانګړې ماشين دي چې د اړتيا وړ رنګينې رڼا ته مخامخ کېښودل کيږي او بيا دا رنګينه رڼا د متخصص ډاکتر د لارښوونو سره سم او د مناسبې مودې لپاره د بدن پر اغېزمن ځاي متمرکز کيږي.

په رنګونو باندې د درملنې نورې لارې چارې هم شته، لکه د لوست لپاره له رنګينو کارتونو څخه ګټه اخيستل يا داسې نور، خو دا يې څو مشهورې لارې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# رنګونه او قرآن کريم

الله جل جلاله ټول شيان د انسان د خدمت او ګټې لپاره پيدا کړي او د انسان د هوساينې او ارامتيا لپاره يې د هغه په خدمت کې ګرځولي دي . الله جل جلاله ټول مخلوقات ښکلي پيدا کړي .هر کله چې انسان د الله جل جلاله مخلوقاتو ته ګوري ، دهغوي له مختلفو او ښکلو ښکلو رنګونو په ليدو خوشاليږي او له ليدو يې خوند اخلي . د مخلوقاتو مختلف رنګونه له يوې خوا انسانانو ته خوښي وربخښي ، او له بل پلوه يې زموږ چاپيريال ته ښکلا وربخښلې .

الله جل جلاله تل موږ د رنګونو ښکلا ته متوجې کوي . لکه :

## غرونه مختلف رنګونه لري:

موږ ګورو چې غرونه بېلا بېل رنګونه لري، الله جل جلاله ته دا سخته نه وه چې ټول غرونه يې په يوه رنګ پيدا کړي واي ، خو کله چې انسان د ډول ډول رنګونو په ليدو خوشاليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





،دهمدې حکمت له مخې الله جل جلاله غرونو ته ډول ډول رنګونه ورکړل.

الله جل جلاله د فاطر سورت په ۲۷ آیت کې فرمايي:

وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٞ

ژباړه : ځینې غرونه سپین ځلي لري ، ځینې سره . غرونه مختلف رنګونه لري او ځینې یې بیا تور او لوړ دي )

د ( جدد ) کلمې مفرد ( جدة ) ده ، چې د لارواو ځلو په مانا راځي . او ( غرابیب سود ) تورو او لوړو غرونو ته ویل کیږي.

زموږ سترګې د غرونو په مختلفو رنګونو لګیږي ، کله مو سترګې پر سور غر لګیږي ،کله پر سپین او کله پر تور، دا نو طبیعي خبره ده چې دا حالت د انسان زړه ته خوښي وربخښي.

په دې آیت کې له سپین او سور رنګ ځخه یادونه شوې، خو له دې رنګونو پرته، غرونه په نورو رنګونو کې هم لیدل کیږي چې الله جل جلاله ورته په ډېر اختصار سره د مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جمله کې اشاره کړې ياني مختلف رنګونه لرونکي غرونه . دا په دې مانا چې الله جل جلاله غرونو ته بېلا بېل او ښکلي رنګونه ورکړي .

د تيږو مختلف رنګونه او د سور سمندر په تل کې ښکلې او رنګينې مرجاني ډبرې د انسان سترګې برېښني او خوښي ورکوي .

او کله چې الله جل جلاله په پورتني آيت کې له ( بيض وحمر ) ياني له سپين او سور رنګ څخه وروسته د ( مختلف الوانها ) جمله راوړې، دا په دې مانا چې سپين او سور رنګونه اساسي رنګونه ګڼل کيږي او نور ټول رنګونه له دې دوو څخه جوړيږي

## د څارويو مختلف رنګونه :

د څارويو ښکلي او ډول ډول رنګونه هغه څه دي چې الله جل جلاله ورته د نحل سورت په ۶ آيت کې اشاره کړې : الله جل جلاله فرمايي

(c) ketabton.com: The Digital Library





وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ

**ژباړه : تاسو ته ښکلا ده په هغو څارويو کې چې څرځايونو ته يې سهار وړي بوځئ او بيرته يې ماښام راولئ .**

**او کله چې الله جل جلاله د فاطر سورت په ۲۸ ايت کې فرمايي :** (وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ

**ژباړه : خلک ، ځناور او څاروي مختلف رنګونه لري)**

**نو له دې آيت څخه دا راوالوميږي چې څاروي يو ډول رنګ نه لري . ياني ځيني يې سره ، ځيني يې سپين ،ځيني يې تور او جلا جلا رنګونه لري.**

**امام قرطبي رحمه الله وايې : (دا ټول د دوي په جوړوونکي او پيداکوونکي باندې دلالت کوي .)**

**او په تېر آيت کې د (کذلک ) کلمه انسان ته دا ورپه يادوي، چې د رنګونو اختلاف يوازې په غرونو کې نه ، بلکې په ژونديو ژويو کې هم شته .( خلک ، ځناور او څاروي )**

(c) ketabton.com: The Digital Library





او دا چې الله جل جلاله په پورتني آیت کې ( انعام ) یانې څاروي يې له ( الدواب ) یانې ځناورو څخه وروسته یاد کړي ، په دې کې عطف عام په خاص باندې دي . یانې د ( انعام ) کلمه په ( الدواب ) کلمې باندې عطف ده ، په دې کې هم دالله جل جلاله دا حکمت وو چې د څارویو د رنګونو ښکلا مونږ ته ډېر ارزښت لري، دا ځکه چې زموږ سترګې د ځناورو په پرتله پر څارويو ډېرې لګیږي او سروکار مو ورسره زیات وي. نو وخت په وخت دهغوي د مختلفو رنګونو په لیدو سره الله پرموږ نعمت کوي او خوښي راته راکوي. دبېلګې په توګه پسونه او رمې چې په پټیو او څړځایونو کې وي،یا داسې نور حیوانات چې موږ سره په کور کلي کې ژوند کوي او سروکار مو ورسره زیات وي، خو له بل پلوه ګیدړان ، فیلان او لېوانو سره مو سروکار نه وي ، هغوي په ځنګلونو کې ژوند کوي او ډېر کم وختونه يې ګورو او یا خو يې بیخي نه وینو . نو ځکه الله جل جلاله په پورتني آیت کې لومړي د ( الدواب ) یانې ځناور او وروسته يې ورپسې ( الانعام ) یانې څاروي یاد کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## زرغون (شين) رنګ ( د بوټو او کښتونو رنګ )

موږ په خپل ورځني ژوند کې مختلف رنګونه ګورو، او ښايې د نورو رنګونو په پرتله مو سترګې پر زرغون رنګ ډېرې ولګيږي، دا هغه رنګ دي چې د انسان زړه ته خوښي وربخښي، په ځانګړې توګه کله چې د انسان سترګې په پراخو زرغونو ځمکو لکه باغونو او کرنيزو ځمکو باندې لګيږي، يا کله چې له بارانه وروسته شنې دښتې او بوټي ګوري ، نو دا زرغونه منظرې د انسان اروا تازه او زړه يې خوشالوي .

الله جل جلاله فرمايي : أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ ٱلْأَرْضُ مُخْضَرَّةً

ژباړه : آيا نه ګورې چې الله جل جلاله له آسمانه اوبه راورويي اوځمکه پرې زرغونه کوي . همدا راز الله جل جلاله د انعام سورت په ۹۹ آيت کې فرمايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library





فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا

**ژباړه : مونږ له څمکې زرغونه بوټي راوویستل او بیا ترې دانې راباسو . په دې آیت کې د ( خضر ) کلمه د زرغونه بوټو او کرنې په مانا راغلې . یانې الله جل جلاله د باران په واسطه ځمکه زرغونوي .**

**دا چې ولې د نورو رنګونو په پرتله شین ( زرغون ) رنګ غوره دي، دا دوه لاملونه لري :**

**لومړی : هغه جنتیان چې الله جل جلاله ته به په جنت کې تر ټولو نږدې وي ، هغوي به زرغونه جامې اغوندي. دا صفت الله جل جلاله په خپل کتاب قرآن کريم د ( الانسان ) سورت په ۲۱ آیت کې بیان کړي ، الله جل جلاله فرمايي :**

عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ

**ژباړه : پر دوي به د نریو وریښمو شین رنګه جامې وي او همدارنګه د غټو وریښمو جامې به يې هم اغوستي وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او همدا راز د ( الکهف ) سورت په ۳۱ اًیت کې یې فرمایلي دي :**

وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسۡتَبۡرَقٍ

**ژباړه : جنتیان به د نریو وریښمو او غټو وریښمو شین رنګه جامې اغوندي .**

**نو پر دې بنسټ ، ویلي شو چې شین ( زرغون ) رنګ تر ټولو غوره او خوشاله رنګ دي ، که له دې پرته بل کوم غوره وای او انسان ته یې لا ډېره خوښي ورکولې، نو الله جل جلاله به په خپل کتاب کې د جنتیانو لپاره دهغې رنګ جامو وصف کړې وای .**

**دویم : شین ( زرغون ) رنګ د انسان د سترګو د لید حاسه پیاوړې کوي . رنځورپوهانو هم دا حقیقت بیان کړي دي ، ددې لامل دادي چې شین ( زرغون ) رنګ د سترګو لید په ډېرې نرمۍ او په خوند او لذت سره راټولوي،که څه هم تور رنګ هم دا ځانګړنه لري خو هغه یې بیا په ډېر شدت سره راټولوي . او شین رنګ کې نرمي وي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library





او همدا راز په حدیث شریف کې هم په دې اړه یادونه شوې، او دا خبره تاییدوي چې شین رنګ د سترګو لید پیاوړي کوي .

او الله جل جلاله د النمل سورت په ۶۰ آیت کې فرمایي :

فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهۡجَةٖ

ژباړه : مونږ د باران په واسطه داسې ښونه رازرغونه کړل چې انسان ته خوښي ورکوي .

د ( في ظلال القرآن ) تفسیر لیکوال سید قطب رحمه الله ، د خپل تفسیر د پنځم ټوک په ۲۶۵۲ صفحه کې ددې آیت لاندې لیکي :

خوشاله ، تازه ، ژوندي، ښکلې او خوښي ورکوونکي ښونه.....او د ښونو منظرې د انسان زړه ته تازه ګي ، ګړندیتوب او خوښي وربخښي . او دا تازه ګي، ښکلا او خوشالي زړونه راویښوي. او کله چې انسان د ښونو په اړه ژور فکر وکړي نو خامخا د هغې د خالق او جوړوونکي ثناء او ستاینه کوي، دا فکر یې دې ته اړ باسي چې هغه پیداکوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library





ذات ته پام وکړي چې دې ښونو ته يې حيرانوونکې او زړه خوشالوونکي ښکلا وربخښلې .

که ددنيا ستر هنرمندان او ساينس پوهان راټول شي هم نه شي کولي چې يو ګل ته رنګ ورکړي او ياېي جوړکړي. په يوه ګل کې د رنګونو ځيې، د ليکو او ريښو غزېدل، د پاڼو تنظيم او ترتيب، دا ټول هغه چيلينجونه دي چې هيڅ ساينس او علم له پخوا راهيسې او تر نن ورځې دهغې ځواب نه دي ورکړي ، او نه په دې ښکلا او رازونو سره يو ګل جوړولي شي .کله چې دا کار نه شي کولي نو يوې ونې ته د ژوند او ساه ورکولو توان کله درلودي شي ؟!!. دا هغه ستر راز دي چې انسان ترې عاجزدي او تل به عاجز وي .

شين رنګ چې ډېري په بوټو کې او په مختلفو ډولونو او ښو ليدل کيږي ( په ځانګړې توګه په زرغونو پاڼو کې ) دا رنګ خپله سرچينه له يوې کيمياوي مادې څخه اخلي چې ډېر پېچلي جوړښت لري، د کرنې پوهان دا ماده د کلوروفيل (Chlorophyll) په نامه يادوي .

په لومړيو وختونو کې داسې باور کېده چې کلوروفيل له يوې مادې څخه عبارت ده، خو کله چې د بوټو په اړه څېړنې پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library





شوې ، نو څرګنده شوه چې کلوروفیل له نورو څلور مادو څخه جوړه ده، چې د ( Aکلوروفیل ، B کلوروفیل ، په نامو یادیږي او دواړه زرغون یا شین رنګ لري. او نورې دوه مادې چې د (کارتین ) او ( زانتوفیل ) په نامو یادیږي ، دواړه دبوټود رنګ دوه مادې دي او ژیړ رنګ لري .

د کلوروفیل پیچلې ماده چې د شین رنګ ماده ورکې زیاته ده ، دا د بوټو په نړۍ کې د الله جل جلاله له ښکاره معجزو څخه شمیرل کیږي، دا ځکه چې دا ماده د بوټو په غذايي جوړښت کې مهم رول لري . د بیلګې په توګه بوټي له خاورو څخه ډېر اندازه اوبه راکشوي، لکه څنګه چې له هوا څخه کاربون ډاي اوکسایډ راکشوي .

او له دغه دوو ساده مادو څخه چې ( اوبه او کاربون ډاي اوکسایډ) یادیږي، کلوروفیل کولی شي چې (کاربوهایدرایت 5) تولید کړي، لکه د شکرې مختلف ډولونه،چې په دې جمله کې د ګلوکوز شکر،د میوو شکر،ګني، لبلبو او داسې نورې شکرې راځي ، همدا راز د نشایستې مختلف ډولونه لکه د

[5] دا یو ډول ماده ده لکه شکر او نشایسته ،چې بدن ته انرژي ورکوي ، او هغه خواړه چې دا ماده ورکې شتون لري لکه ډوډۍ ، آلو وریجې او داسې نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library





غنمو، جوارو ، وریجو په دانو کې شته نشایسته، یا په کچالو او الّو کې نشایسته . او همداسې نور .

او دا ډول مهم غذایي توکي د رڼا له وړانګو پرته هیڅکله نه شي تولیدیداي ،او دا عملیه د( photosynthesis )[6] په نامه یادیږي . یانې د رڼا په واسطه د توکو د ترکیب عملیه . په لاندې معادله کې کولي شو دا عملیه په مختصره توګه بیان کړو .

کلورفیل

کاربون ډاي اوکسایډ + اوبه ———————— کاربوهایدریتي توکي+اکسیجن

د رڼا وړانګې

بوټي د انسانانو او دځمکې پر سر د ټولو ژوندي ژویو د ژوند د پرمخ بیولو بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي . بوټي هغه مهم او بنسټیز تولیدات دي چې له زرغونه مادې څخه سرچینه اخلي . نو پر دې اساس ویلي شو چې کلوروفیل د ټولو حیواني او یا نباتي خوړ تولیدوونکې ماده ده.

په بوټو کې ددې شین رنګ (کلوروفیل) سربېره نور هم ډېر توکي شتون لري چې بېلا بېل رنګونه لري . له هغې ډلې د

---

6 د رڼا پواسطه د موادو ترکیب ته وایي.

آسماني رنګ ماده ، د ژېړ رنګ ماده، د سره رنګ ماده ، د نسواري او داسې نورو رنګونو مواد يادولي شو.

دا ډول رنګونه د بوټو په ډېرو برخو کې ترسترګو کيږي او په ځانګړې توګه په ګلانو او مېوو کې .

الله جل جلاله د الفاطر سورت په ۲۷ ايت کې داسې فرمايې :

فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٖ مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهَا

ژباړه : موږ د ورښت په واسطه له ځمکې ډول ډول مېوې راوويستلې چې مختلف رنګونه لري .

## ژېړ رنګ

په قرآن کريم کې د غوا د پوستکي د ژېړ ځلانده رنګ له يادونې وروسته د سرور کلمه راغلې چې د خوشالی په مانا راځي . الله جل جلاله د البقرة سورت په ۶۹ آيت کې فرمايي :

قَالُواْ ٱدۡعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا لَوۡنُهَاۚ قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٞ صَفۡرَآءُ فَاقِعٞ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّٰظِرِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library





ژباړه : اسرائيلو وويل چې الله ته سوال وکړه چې موږ ته ووايې چې دا غوا څنګه رنګ لري، موسي عليه السلام ورته وفرمايل چې الله جل جلاله وايې چې دا غوا ژېړه او ډېر ځلانده رنګ لري چې کتونکي خوشالوي .

ويل کيږي چې ( فاقع لونها ) د ډېرسخت ژېړوالي مانا لري ، ياني له ډېر ژېړوالي لامله دا غوا نږدې ده چې سپينه شي ، او داسې هم ويل شوي چې ( فاقع لونها ) د رنګ د صفايي او پاکوالي په مانا راځي. او دا رنګ کتونکي خوشالوي ، څکه چې څوک يې پوستکي ته وګوري نو فکر کوي چې د لمر وړانګې يې له پوستکي راوځي .

په ټوليزه توګه ، دا چې ژېړ رنګ د خوشالۍ لامل ګرځي، ابن جرير د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت کوي، فرمايي چې : ( من لبس نعلا صفراء لم يزل في سرور ما دام لابسها )

ژباړه : چا چې ژېړې پڼې واچولې ، هغه به تر هغې په خوشالۍ کې وي ترڅو يې چې ويستلي نه وي .

او مفسرين د ( فاقع لونها ) ژباړه داسې نه کوي چې ګويا د ډېر ژېړوالي لامله يې رنګ تور شوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





او قرطبي په دې نظر دي چې دا مانا یوازې په اوښانو کې د مجاز په توګه استعمالیږي . الله جل جلاله د ( المرسلات ) سورت په ۳۳ اًیت کې فرمایي : كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفۡرٌ

د اور لمبې به داسې وي لکه ژېړ اوښان . دا په دې لامل چې تور اوښان ، ژېړ توروالي لري . او که الله جل جلاله د غوا د رنګ په اړه توروالي مراد وي ، نو بیا یې په ( فاقع ) یانې ځلانده صفت باندې تاکید نه کاوه ، ځکه ځلا صفت دي، او یا داسې صفت دي چې یوازې د ژېړ رنګ پورې تړاو لري، او هیڅکله دا کلمه د تور رنګ لپاره نه راوړل کیږي . عربان د هر رنګ لپاره جلا صفت لري، او په هغې صفت سره یې بېلوي ، کله چې تور رنګ له اندازې زیات تور شي نو د ( حالک ) صفت ورته راوړي، یانې ( تک تور ) کله چې سپین رنګ له اندازې ووځي نو بیا ورته د ( ناصع ) صفت راوړي ، یانې ( تک سپین ) کله چې شین ( زرغون ) رنګ له اندازې ووځي نو بیا ورته د ( ناضر ) صفت راوړي ، یانې ډېر زرغون ، او کله چې ژېړ رنګ له اندازې ځلانده شي ، نو بیا ورته د ( فاقع ) صفت راوړي ، لکه په تېر اًیت کې ، یانې ( تک ژېړ ) او هیڅکله د یو رنګ صفت د بل رنګ لپاره نه کارول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





کسائي وايي :(کله چې ژېړ رنګ له اندازې زيات شي نو ويل کيږي چې ژېړوالي يې تمام شو .)

امام قرطبي رحمه الله وايي، چې ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي : ( ژېړوالي زړه خوشالوي ) او په ژېړو پڼو اغوستلو باندې ټينګار کوي . نقاش د ابن عباس څخه دا روايت کړي . او ثعلبي د علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه دا سې نقل کوي چې هغه فرمايي : (من لبس نعلي جلد أصفر قل همه لأن الله تعالي يقول : صَفۡرَآءُ فَاقِعٌ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّـٰظِرِينَ

ژباړه : چا چې ژېړې پڼې واچولې ، دهغه غمونه به کم وي .ځکه الله جل جلاله د غوا د رنګ په اړه فرمايي چې ، غوا به ډېره ژېړه وي. چې کتونکي خوشالوي . )

ابن الزبير او محمد بن ابي کثير د تورو پڼو له اغوستلو منعه کړې ، ځکه په وينا يې تور رنګ زړه خپه کوي .

دا کومه د حيرانتيا خبره نه ده چې ابن الزبير او ابن کثير د تورو پڼو له اغوستلو منعه فرمايلې ده، يا دا چې ابن عباس او علي بن ابي طالب رضي الله عنهم په ژېړو پڼو اغوستلو باندې ټينګار کړې . دا دي نن د رنګونو او دهغې د اغېزو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډېرې ځېړنې ترسره شوې ، په دې اړه هم ځېړنې ترسره شوې چې کوم ډول کسان کوم ډول رنګونه ډېر خوښوي ؟ دا هغه څه دي چې نن د ځېړنو په پایله کې په لاس راغلي ، خو د پخوانیو علماوو او اوسنیو پوهانو سره تجربه او د تجربې پایلې راویستل ترټولو مهم او لومړي معیار ګڼل کیږي . داسې نه شو کولي چې یوه خبره پخوانی ده نو ځکه یې باید پرېږدو او عمل پرې ونه کړو ، او نه دا چې باید هرې نوې لاسته راوړنې او نوې خبرې ته ته غاړه کېږدو او په آسانی یې ومنو . بلکې مونږ باید تجربو ته وګورو او پایلو ته یې ځیر شو ، پرېکړه به هغه مهال کوو چې ذوق او عقل مو راسره موافقه وکړي .

زمونږ پخواني علماء د ډېر لوړ او ښکلي ذوق خاوندان وو ، شیخ شرف الدین ابونصر محمد بن ابي الفتوح البغدادي چې په ( ابن المرة ) باندې شهرت لري، په خپل کتاب ( مفرح النفس ) یانې د زړه خوشالوونکي په نامه کتاب کې د ( سترګې د حاسې له لارې د زړه خوشالي ) تر عنوان لاندې داسې لیکي : ( هغه شیان چې سور ، یا زرغون ، یا ژېړ یا له دې رنګونو څخه تشکیل شوي رنګونه لري نو زړه ورته خوشالیږي، دې

(c) ketabton.com: The Digital Library





رنګونو ته په کتلو سره بدن آرامیږي، زړه ورته خوشالیږي ، عقل او ذهن ورسره راژوندي کیږي، بدن پیاوړي کوي او اروا تازه کوي ....)

بشر فارس په ( سر الزخرفة الاسلامية ) په نوم کتاب کې لیکي : ( تاسو د الله قدرت او حکمت ته وګورئ چې دا څلور رنګونه ( ژېړ، سپین، سور، او زرغون ) رنګونه یې د قیمتي ، ښکلو او غوره شیانو لپاره ټاکلي، دا په دې مانا چې سره زر یې ژېړ پیدا کړي، ملغلرو ته یې سپین رنګ ورکړي ، زمرود یې زرغون پیدا کړي، او یاقوت ته یې سور رنګ ورکړي . الله جل جلاله په نړۍ کې قیمتي شیانو ته دا رنګونه وټاکل . الله جل جلاله د برکت خاوند او ډېر ښکلي پیدا کوونکي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د انسانانو رنګونه

که څه هم ټول انسانان د آدم علیه السلام اولاده ده او ټول د بدني جوړښت له پلوه په یو ډول دي ، خو په رنګونو کې مختلف دي ، په دې کار کې د الله جل جلاله قدرت او اعجاز راڅرګندیږي . الله جل جلاله د فاطر سورت په ۲۷ آیت کې فرمايي

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ﴾

ژباړه : خلک ، څناوراو څاروي مختلف رنګونه لري .

ځینې خلک تک تور رنګ لري لکه حبشیان، ځینې یې بیا د روم د خلکو په څېر تک سپین رنګ لري، عربان منځني رنګونه لري ، او د هند د خلکو په څېر یې ځینې بیا یو څه توروالي ته نږدې دي .

دا حقیقت د محمد صلي الله علیه وسلم په یوه حدیث کې هم راڅرګندیږي، امام احمد رحمه الله وایې چې یحیي بن

(c) ketabton.com: The Digital Library





سعيد د ابي موسي رضي الله عنه څخه روايت کوي چې محمد صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي :

" أن الله خلق آدم من قبضه قبضها من جميع الأرض فجاء بنو آدم على قدر الأرض جاء منهم الأحمر والأبيض والأسود وبين ذلک والخبيث والطيب بين ذلک" رواه أبو داود والترمذي .

ژباړه : الله جل آدم عليه السلام له يو موټي خاورې څخه پيدا کړ ، دا موټي خاوره يې د ځمکې له ټولو برخو څخه راخيستې وه، نو خلک په همدې اندازه راپيدا شول ، ځينې يې سره ، ځينې يې سپين ، ځينې يې تور او ځينې يې ددې ترمنځ رنګونه لري ، ځينې يې بد او ځينې يې ښه او ځينې يې منځني دي .

الله جل جلاله د ( الروم ) سورت په ٢٢ آيت کې فرمايي :

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَـٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ

ژباړه : دځمکو او آسمانونو پيدايښت ، او خلک په مختلفو ژبو او رنګونو پيداکول د الله جل جلاله له معجزو څخه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دانسان پوستکي تل د رنګ یوه ماده لري چې د میلانین (Melanin) په نامه یادیږي،د رنګ دا ماده یا توره او یا ډېره نسواري وي او د پوستکي په ځینو ځانګړو حجرو کې شتون لري ،دا حجرې د ( میلانین حجرو ) په نامه یادیږي . نوموړې حجرې بیا د پوستکي په لاندې برخه کې چې د ملپیجي طبقې ( malpighi) په نامه یادیږي خپرې دي .

د رنګ دا ماده د ما وراء بنفشه وړانګو ویجاړوونکي او خطرناکې اغېزې چې د لمر په وړانګو کې شتون لري، نه پرېږدي چې په پوستکي کې نازکې حجرې زیانمنې کړي او یایې له کوم ګواښ سره مخامخ کړي . د رنګ له دې مادې څخه یوه قوي او غښتلې طبقه تشکیلیږي او نه پرېږدي چې یادې خطرناکې وړانګې پوستکي ته ننوځي او حجرو ته کوم زیان ورسیږي .

انسانان هم په مختلفو سیمو او استوګنځایونو کې ژوند کوي ، ځینې یې په یخو او ځینې یې بیا ډېر وخت د لمر وړانګو ته تېروي ، همدا لامل دي چې په پوستکي کې د میلانین داندازې په اړه څرګند توپیر ترسترګو کیږي ، او د انسانانو رنګونه سره توپیر کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





په شمالي سيمو کې د لمر وړانګې يو څه کمزورې وي، او د کال په اوږدو کې ورکې لمريزې ورځې هم کمې وي، په داسې سيمو کې موږ ګورو چې په پوستکي کې د ميلانين ماده هم په ډېره کمه اندازه وي، دا ددې لامل ګرځي چې دهغې ځاي د خلکو پوستکي ډېر سپين وي ، سترګې يې آسماني رنګه او ويښتان يې ژېړ وي . دبېلګې په توګه دا حالت د ( اسکندناوي ) په هېوادونو لکه ناروي ، سويډن او ډنمارک کې په څرګند ډول ليدل کيږي .

څو که يو څه د سوېل (جنوب) لور ته ورتېر شو ، نو ګورو چې دهغو سيمو د خلکو د پوستکي، ويښتانو او سترګو رنګ يو څه په تدريج سره نسواري رنګ ته ورنږدې کيږي ، او په همدې ترتيب که استوائي سيمو ته لاړ شو، نو دهغه ځاي د خلکو رنګ تک تور وي ، او لامل يې هم دا وي چې په دې سيمو کې د ډېرو ورځو لپاره لمر نه پرېوځي. دا په دې مانا چې په دې سيمو کې د لمر وړانګې تل شته وي ، ددې ترڅنګ په دې سيمو کې د رڼا وړانګې نه دا چې ډېر وخت خپرې وي ، بلکې ډېرې تېزې او په شدت کې وي . او همدا لامل دي چې ددې سيمو د اوسېدونکو د پوستکي، ويښتانو او سترګو رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library





**تک تور وي . له دې دا روښانه کيږي ، هغه خلک چې په دې سيموکې ژوند کوي او ډېر وخت د رڼا له وړانګو سره مخامخ کيږي، نو دهغوي په پوستکي کې د تور رنګ ماده ددې ځاي د رڼا له وړانګو سره پوره سمون خوري .**

**د ميلانين حجرې چې کله د لمر وړانګو[7]ته مخامخ شي ، نو په زياته اندازه يې د رنګ ورکوونکې مادې د توليد وړتيا زياتيږي. او دهمدې موخې دترلاسه کولو لپاره د تيروسين (Tyrosine) پروټيني ماده هم کارول کيږي چې بيا يې د ميلانين د رنګ په ماده بدلوي ، او کله چې پوستکي د ماوراءِ بنفش ( د بنفش نه اًخوا ) وړانګو ته مخامخ کيږي نو دا ماده په زياته اندازه د رنګ ورکوونکو حجرو په داخل کې دهغې مخه نيسي.**

**د انسان د پوستکي په رنګ کې ځيني وختونه شاذ او نادر حالت هم ترسترګو کيږي ، دا حالت د بې رنګۍ يا ( Albinism ) په نامه نادېرې او د پيدايښتي عيبونو څخه شمېرل کيږي .**

[7] د لمر د وړانګو رڼا له اوو داسې وړانګو څخه جوړه ده چې د ليدو وړ دي لکه ( بنفشه يي وړانګې،شين بخن،آسماني، زرغون ، ژيړې،نارنجي او سرې وړانګې ) او له دوه وړانګو څخه چې نه ليدل کيږي لکه د ( بنفشي نه آخوا يا ماوراء بنفشه ) (ultraviolet او (infrared ) وړانګې .

(c) ketabton.com: The Digital Library





په دې حالت کې د انسان په پوستکي، ویښتانو او د کسي چاپېره په رنګینه برخه کې د میلانین ماده هیڅ شتون نه لري، او همدا لامل دي چې ددا ډول کسانو د پوستکي رنګ ګلابي وي.( دا رنګ دکوچنیو میینو ویښتانو په څېر وي چې دبدن په زیاتو برخو باندې ترسترګو کیږي ) او همدا راز ویښتان یې هم په بشپړه توګه تک سپین وي، ځکه له بل هر ډول رنګ څخه خالي وي نو تک سپین مالومیږي .

همداراز په دې حالت کې د انسان د کسي چاپېره برخه هم کوم رنګ نه لري، دا ددوي پیدایښتي ستونزه ګڼل کیږي . او هغه کسان چې په دې ناروغۍ اخته وي، نه شي کولي چې په مستقیمه توګه د لمر وړانګو ته وګوري. نو ځکه دوي ډېري وختونه د لمر له وړانګو څخه د ژغورنې په موخه تورې عینکې ( توشمې ) کاروي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د قیامت پر ورځ د انسانانو رنګونه

د قیامت په ورځ به د اهل سنت او جماعت مخونه سپین وي او د کفر او اختلاف خاوندانو مخونه به تور وي. ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي : ( د اهل سنت مخونه به سپین وي او د بدعت د خاوندانو مخونه به تور وي ) الله جل جلاله د ( الزمر ) سورت په ۶۰ اَيت کې فرمايي :

وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌ

ژباړه : او د قیامت په ورځ هغه کسان چې په الله يې دروغ ويلي دي ، مخونه به يې تور وي . او همدا ډول د ( اَل عمران ) سورت په ۱۰۶ اَيت کې فرمايي :

يَوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوهٞ وَتَسۡوَدُّ وُجُوهٞۚ

ژباړه: هغه ورځ چې ځینې مخونه به سپین وي او ځینې به تور وي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياني د قيامت په ورځ چې کله انسانان له قبرونو راپاڅيږي د مؤمنانو مخونه به سپين وي او د کافرانو مخونه به تور وي .

او ځينې مفسرين وايې : کله چې مؤمن انسان خپل کتاب د قيامت په ورځ لولي نو مخ به يې سپينيږي، او کله چې کافر خپل کتاب لولي نو مخ به يې توريږي. الله دې په خپل رحم او مهرباني سر ه د قيامت په ورځ زموږ مخونه سپين کړي .

په قرآن کريم کې په ډېرو آيتونو کې د رنګونو يادونه شوې ده ، دلته يې مونږ څو آيتونو ته اشاره کوو :

الله جل جلاله د ( طه ) سورت په ۱۰۲ آيت کې فرمايي :

وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا

ژباړه : د قيامت په ورځ به مجرمين شين سترګي راپاڅوو. او د ( فاطر ) سورت په ۲۷ آيت کې فرمايي :

وَمِنَ ٱلۡجِبَالِ جُدَدُۢ بِيضٞ وَحُمۡرٞ مُّخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٞ

ژباړه : د ځينو غرونو ځلي سپين او ځينې يې سره وي، غرونه مختلف رنګونه لري او ځينې يې لوي او تور غرونه دي . او

(c) ketabton.com: The Digital Library





**همداراز د ( البقرة ) سورت په ۶۹ اًیت کې فرمایي** : صَفۡرَآءُ فَاقِعٌ لَّوۡنُهَا تَسُرُّ ٱلنَّـٰظِرِينَ

**ژباړه : غوا به ژېړه او ژېړوالي به يې ډېر تېز وي چې کتونکي خوشالوي. الله جل جلاله د ( الکهف ) سورت په ۳۱ اًیت کې فرمایي** : وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسۡتَبۡرَقٍ

**ژباړه : جنتیان به د نرمو او غټو ورېښمو شنې جامې اغوندي .**

**د یادونې وړ ده چې الله جل جلاله په دې او دېته ورته په نورو اًیتونو کې اساسي رنګونو ته اشاره کړې لکه : سپین ، سور ، تور ، ژېړ، زرغون ( شين ) او اًسماني رنګونه . په دې کې يې ځینې رنګونه ډېر شوخ او ګرم دي لکه سور او ژېړ ، او ځینې يې بیا ساړه دي لکه زرغون( شين ) او سپین رنګونه .**

**له دې رنګونو څخه نړدې اووه سوه نور رنګونه راوځي، او کله چې له دې رنګونو څخه کوم یو له بل سره ډېر ګډ شي نو دا رنګونه تولیدوي. د بېلګې په توګه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library





- کله چې سور رنګ له ژېړرنګ سره ګډ شي نو نارنجي رنګ ترې جوړیږي.
- او کله چې سور رنګ له آسماني رنګ سره ګډ شي نو بنفشه یي رنګ ترې جوړیږي.
- او کله چې ژېړ رنګ له آسماني رنګ سره ګډ شي نو زرغون یا شین رنګ تولیدوي .
- او کله چې شین رنګ له سور رنګ سره ګډ شي نو نسواري رنګ ترې راوځي... او همداسې نور .

که موږ ددې آیتونو تفسیر په بشپړه توګه راواخلو او په سمه توګه ورته ځیر شو ، نو د الله قدرتونه او بې پایه معجزې به ورکې وګورو ... الله جل جلاله ډېر قادر ذات ، ښکلي پیداکوونکي او ډېر ښه تدبیر مالک دي .

او که له دې لږ ورتېر شو او دنورو مخلوقاتو له رنګونو سره لږ تم شو، د هغه مخلوقاتو د رنګونو په اړه وغږیږو چې د ځمکې پر سر ګرځي ، یا دهغه ژویو د رنګونو سره پاتې شو چې په اوبو او سمندرونوکې ژوند کوي، او یا د هغه مرغانو رنګونو ته ځیر شو چې په هواء کې الوتنې کوي ، نو دې پایلې ته به ورسیږو چې دوي بېلا بېل او ښکلي ښکلي رنګونه لري.
د بېلګې په توګه، که مونږ هغه رنګینو کبانو ته وګورو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library





سمندر په تل کې د مرجانو د ډېریو په منځ کې لامبوګانې وهي، یا د مرغانو ډلو ته ځیر شو لکه د طاووس او نورو نغمه لرونکو مرغانو رنګونه، او یا د ژویو هغې ډلې ته وګورو چې د ځمکې پرمخ پر خپلې سینې ښوایيږي ، نو وبه ګورو چې دوي ټول ښکلي او حیرانوونکي رنګونه لري چې انسان ته یې په کتلو سره خوشالیږي.

الله جل جلاله ښکلی دي او ښکلا خوښوي ، کله چې الله جل جلاله ټولو مخلوقاتو ته مختلف رنګونه ورکړي ، طبیعت او انسان ته یې ښکلي او زړه راښکونکي رنګونه وربخښلي، ونې یې د بېلا بېلو رنګونو په پیداکولو سره ښکلې کړي، ګلان یې په مختلفو رنګونو پیدا کړي ، لمر او سپوږمۍ یې ورته ځلانده کړي، ژویو ، مرغانو او کبانو ته یې ډول ډول رنګونه ورکړي . نو دا ویلي شو چې رنګ د الله جل جلاله له لورې ټولو مخلوقاتو او په ځانګړې توګه انسانانو ته ښکلې ډالۍ او ستر نعمت دي . الله جل جلاله د ( لقمان ) سورت په ۱۱ آیت کې فرمایي : هَـٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ

ژباړه : دا دالله جل جلاله مخلوق دي ، تاسو وښایې چې د الله پرته چا څه پیدا کړي . ؟؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library





## رنګونه زموږ پر ژوند څومره اغېز کوي ؟

رنګونه زموږ په ژوندانه کې مهم رول لري...د انسان پر بدن فزیولوژیکي څېړنو ښودلې چې سور رنګ د زړه د ټکانونو د تېزوالي لامل ګرځي. او آسماني رنګ عصبي سیستم آراموي.

ځینو تجربو ثابته کړې ، هغه کسان چې درانده بارونه پورته کوي ، په ډېرې سختۍ سره هغه صندوقونه پورته کوي چې په ایره یي رنګ رنګ شوي وو ... خو کله چې همدا صندوقونه بیا په زرغون رنګ باندې رنګ شول نوهمدې باروړنکو کسانو دا په آسانۍ سره پورته کړل... دا او دېته ورته نورو تجربو ښودلې چې رنګونه د انسان پر ژوندانه ډېرې اغېزې کوي ، نو له همدې لامله د اوسېدو خونې،دفتر،درسي خونې، د کار ځای او داسې نورو ځایونو په رنګولو کې مو د خوښې رنګ ته ډېر پام وکړئ . او داسې رنګ ورته وټاکئ چې پر تاسو مثبت اغېز وښندي .

لکه څنګه مو چې وړاندې یادونه وکړه ، د حیرانتیا خبره خو لا داده چې رنګونه پر هغو کسانو هم اغېزه لري چې لیدل نه شي کولي . او لامل یې هم دهغو انرژیو غبرګون ( انعکاس

(c) ketabton.com: The Digital Library





)دي چې دهغوي په بدن کې تولیدیږي. لرغونو چینیانو هم د نارغیو په درملنه کې دا نظریه پر مخ بیوله چې د ( فینج شوي ) په نامه یادیږي. او همدا راز فرعونیانو هم په اهرامو کې دننه د میکروبونو د مخنیوي،د باکتریاوو د وژلو او د مومیایي ساتلو په موخه د ( زرغون نه اًخوا ) رنګ څخه کار اخیست .

په عربي ژبه کې هم رنګ په ډېرو اصطلاحاتو کې کارول شوي دي او جلا جلا ماناوې افاده کوي ... د بېلګې په توګه عربان وایې چې ( فلان یتطایر الشرر الاحمر من عینیه ) یانې د پلانکي له سترګو سرې لمبې راوځي ... دا وخت په دې اصطلاح کې ځکه سور رنګ کاروي، چې د هغه په مخ کې وینه راټولیږي او تک سور مالومیږي . نو سور رنګ د پیاوړي کار په مانا راځي ... او کله چې سور رنګ یو څه راکم شي او اغېزه یې هم کمه شي نو بیا ترې ګلابي رنګ جوړیږي، دا رنګ بیا په نرمۍ او خوشاله ژوند باندې دلالت کوي. په عربي ژبه کې ویل کیږي چې ( حیاة وردیة ) یانې ګلابي ژوند ، په دې جمله کې ګلابي رنګ خوشالي تعبیر کوي یانې خوشاله ژوند .. خو تور بیا د رنګ او رڼا د نشتوالي مانا لري او د خپګان او مرګ سمبول ګڼل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## رنګ څه ته وايي ؟

رنګ د سترګو پر پرده رامنځته شوي فزيولوژيکي اغېز ته وايي ... دا اغېز کېداي شي له رنګينې مادې رامنځته شوي وي يا له رنګينې رڼا څخه ... نو په دې ترتيب رنګ يو احساس دي او په ژونديو ژويو کې له عصبي سيستم څخه دباندې کوم شتون نه لري ... خو له بل پلوه انځور ويستونکي او هغه کسان چې د رنګمالۍ‌کارونه کوي يا په مطبعو او چاپځايونو کې په کارونو بوخت وي، هغوي د رنګ کلمه هغو توکو ته وايې چې دوي يې د شيانو د رنګولو لپاره کاروي .

د طبيعي علومو پوهان وايې ، چې رنګ د رڼا د تجزيې يا photolysis پايلې ، يا د رڼا د څپې اوږدوالي ته وايې. په حقيقت کې د رنګ ماده او رنګينې وړانګې دواړه شتون لري.

د طبيعي علومو پوهانو د رنګ لپاره راتلونکي درې طبيعي ځانګړتياوې ټاکلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- **د څپې اوږدوالي** : که د بېلګې په توګه هغو وړانګو ته ځیر شو چې د لمر رڼا تشکیلوي، نو هغه د رنګین کمان (کمان رستم) رنګونو ته ویشل کیږي (بنفشه یي،اًسماني، زرغون ...) دا هغه رنګونه دي چې د څپو ځانګړې اوږدوالي لري. او ځینې وړانګې داسې دي چې سترګې یې نه شي تمیزولې. لکه د سور نه ښکته څپې ( infrared ) او بنفشې نه اًخوا څپې ( ultraviolet )

۲- **پاکوالي او روښوالي** : یانې د رنګ او په هغې کې چې د سپینوالي کومه اندازه شته دي ، دهغوي ترمنځ ورته والي .

۳- **د ځلا عامل** : یانې له رنګ څخه د رڼا غبرګه (منعکسه) شوې اندازه . نو په دې سره زمونږ سترګې کولي شي چې دا اووه رنګونه تمیز کړي (بنفشه یي ، نیلي، اًسماني، شین،ژېړ،نارنجي، سور) او همدا راز کولي شو چې ددې غبرګې رڼا په برکت سره هغه رنګونه هم وپېژنو چې له دې اووه رنګونو څخه راوځي او ورڅخه سرچینه اخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## رنګونه څنګه پېژنو ؟

موږ له رڼا پرته هيڅکله رنګين توکي نه شو پېژندلي ، دا هغه رڼا ده چې يوه برخه يې زمونږ سترګو ته هم راغبرګيږي. نو په همدې بنسټ ، کله چې په رنګين شي باندې قوي رڼا متمرکزه شي نو هغه ډېره ځلا کوي او ډېرې وړانګې صادروي، نو ځکه يو شي بيا ډېر ځلانده او روښانه مالوميږي . خو که بيا همدا شي د تتې او کمزورې رڼا لاندې کېښودل شي ، نو غبرګون يې کمزوری او ځلا يې کمه وي ، نو ځکه ډېر روښانه نه مالوميږي .

ساينس پوه نيوټن وايې چې رڼا د رنګـ اصل دي . (( سپينه رڼا خپلو اصلي رنګونو ته تجزيه کېداي شي، همدا راز د سپينې رڼا د لاسته راوړلو لپاره هم دا شونې ده چې دا ټول رنګونه سره راټول کړو، نو هرځاي چې رڼا شته وي هلته رنګـ پيدا کيږي.او په همدې ترتيب د رڼا ځرنګوالي د رنګونو په ځرنګوالي باندې اغېزه کوي.ا مالومه خبره ده چې کله شيان د ورځې په رڼا کې پراته وي نو رنګـ يې يو ډول وي ، خو کله چې همدا شيان د مصنوعي رڼا لاندې کېښودل شي نو بيا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library





رنګونه توپير پيداکوي . تاسوچې کله ټوکر (رخت)په يوه هټۍ ( دوکان) کې مصنوعي رڼا ته کېږدئ نو رنګ يې يو ډول ښکاري ، خو کله چې همدا ټوکر دورځې عادي رڼا ته کېږدئ نو بيا يې رنګ له مصنوعي رڼا سره ډېر توپير کوي . نو ځکه ويلي شو چې رڼا د رنګ په مالومولو او راپيژندلو کې مهم رول لري .

## ولې شيان رنګين ګورو ؟

په هر جسم باندې چې رڼا پرېوځي نو له هغې ځخه وړانګې راکشوي او له يو بل ځخه غبرګيږي( منعکسه کيږي ). او د هر جسم رنګ له هغې ځخه غبرګې شوې وړانګې بلل کيږي ... موږ چې کله د ټوکريوه کتان ته ګورو او هغه راته سور ښکاري دا ځکه چې هغې له رڼا ځخه دا وړانګې اخيستي او بيا يې زموږ سترګو ته سرې وړانګې غبرګې کړي. او له دې وروسته په سترګه  کې د سرو وړانګو لپاره ټاکلې سيمه دا احساسات مغزو ته لېږدوي او موږ ته د سور رنګ احساس راپيداکيږي او سور رنګ پېژنو ، او په همدې ترتيب راته د سمندر اوبه هم آسماني ښکاري، دا په داسې حال کې ده چې د سمندر ځپې راته سپين رنګه ښکاري او لامل يې هم دا دي چې دا ځپې

(c) ketabton.com: The Digital Library





د هواء ځیني پوکنۍ لري، دا پوکنۍ د رڼا ټولې وړانګې غبرګوي خو له رڼا څخه هیڅ شي نه کش کوي .نو ځکه دا څپې سپینې ښکاري .

سترګه درنګ په پېژندلو کې ډېره حساسه وي او په ځانګړې توګه د زرغون یا شین رنګ په پېژندلو کې ، خو دا حساسیت د سور او بنفشه یي رنګونو په کمېدو کې له منځه ځي. سترګه کولي شي چې درنګونو ترمنځ ډېر کم توپیر هم وپېژني،اًن کولي شي چې له ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ رنګونو پورې توپیر مالوم کړي .

سترګه په ډېرې اًسانۍ سره کولي شي چې سره او بنفشه یي رنګونه تمییز کړي ،خو د ژېړو رنګونود درجو ترمنځ توپیرونه په اًسانۍ سره نه شي پېژندلې. نو ځکه هغه کسان چې د موټرونو د سینګارولو یا رنګولو په کار بوخت وي ، نه شي کولي چې د موټر ترمیم په ژېړ رنګ په اًسانۍ سره وکړي .

خو یو ( متحد ) رنګ کولي شي سترګې ته اًرام ورکړي او په ځانګړې توګه سترګه تربل هر رنګ سپین رنګ ښه پېژندلې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## سترګه څنګه رنګ پېژني ؟

پوهان په دې اند دي چې د سترګې په پرده کې درې ډوله عصبي ريښې شتون لري چې عبارت دي له :

لومړۍ ټولګه : د اوږدو څپو یا په سور رنګ باندې حساسیت لرونکې عصبي ریښې .

دویمه ټولګه : د منځنیو ( متوسطو ) څپو یا په زرغون رنګ ځانګړې حساسیت لرونکې عصبي ریښې .

درېیمه ټولګه : د لنډو څپو یا بنفشه يي رنګ حساسیت لرونکې عصبي ریښې .

نو په دې ترتیب سور رنګ په لومړۍ ټولګه باندې ډېره اغېزه لري، او په نورو دوه ټولګو باندې يې اغېزه کمزورې ده . او همداسې هر رنګ د سترګې په پرده کې یوه عصبي ټولګه یا څو مختلفې عصبي ټولګې راپاروي .

کله چې په یو وخت کې درې واړه ټولګې راوپارېږي او ټولې ټولګې په یو ځواک او اغېز سره کار وکړي ، نو په داسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سترګه د سپین رنګ احساس کوي . او کله چې په دې دریو ټولګو کې یوه هم راونه پارېږي ، په داسې حالت کې سترګه د تور رنګ احساس کوي .



# د رنګونو ړوندوالي

ځینې خلک رنګونو سم نه شي تمیز کولي او په خپله طبیعي بڼه یې نه شي لیدلي،ډېري وختونه ورته سره رنګونه تور ښکاري ، او یا ورته ژېړ رنګونه ډېر زرغون ښکاري، او ځینې یې بیا د آسماني او بنفشه یي رنګونو ترمنځ په دقت سره تمییز نه شي کولي .

دا یوه ارثي ستونزه بلل کیږي . او کېداي شي دا ستونزه یوه انسان وروسته پیدا شي ، دا په دې مانا چې دسترګو پرده یې خرابه شي ، او یا یې د سترګو په عصبي سیستم کې کومې ستونزې رامنځته شي ، بیا هم دا ډول کسان په سمه توګه د رنګونو ترمنځ تمیز نه شي کولي .

خو هغه ستونزې چې د وراثت له مخې پیداکیږي، دا ناروغي که څه هم له ښځینه وو څخه نارینه وو ته په ارثي توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انتقالیږي خو بیا هم دا ستونزه د ښځو په پرتله په نارینه وو کې ډېره رامنځته کیږي.یانې له ( ۳ــــ۴ ٪ پورې نارینه په دې ستونزه اخته وي .**

**خو دا چې په بشپړ ډول په سترګه کې د رنګونود تمیز وړتیا له منځه لاړه شي دا حالت ډېر کم پیښیږي. داسې انسان ته ټول رنګونه خړ یا ایره یي رنګه ښکاري .**

**خو په جزئي توګه دا حالت ډېر ترسترګو کیږي،او ډېري وختونه ځینې کسان د سور او زرغون رنګونو ترمنځ تمیز نه شي کولي. نو داسې کسانو ته د ځینو کارونو ترسره کول لکه موټر چلونه،پادواني او پیلوټي کول کېداي شي ځینې خطرونه له ځان سره ولري .**

**د یادونې وړ ده چې دداسې ستونزې درملنه نه په طبي او جراحي ډول شونتیا نه لري .... بله دا چې د سترګو د لید د تېزوالي او د رنګونو د تمیز وړتیا خپلو کې کوم تړاو سره نه لري ....کېداي شي د یو انسان د سترګو ځواک ۶/۶ وي خو بیا هم کیداي شي د رنګونو تمیز ونه شي کړي ... یا ددې بر عکس . دا په دې مانا چې کېداي شي د یو انسان د سترګو لید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرکمزوري وي ، خو کولي شي چې په دقیقه توګه د رنګونو ترمنځ توپیرونه تمییز کړي .

## رنګونه په تیاره کې څنګه پېژنو ؟



سترګه نه شي کولي چې په تیاره کې رنګونه تمییز کړي شي ...

او کله چې تیاره راشي ( د لمر د پرېوتو وروسته ، یا د څراغ له بندېدو سره )... سور رنګ له زرغون رنګ څخه نه پېژندل کیږي ... او بیا په راتلونکي ترتیب سترګه د رنګونو د تمیز وړتیا له لاسه ورکوي : بنفشه يي، آسماني، ژېړ او بیا وروسته زرغون رنګ. دا په دې مانا چې زرغون رنګ د نورو ټولو رنګونو په پرتله د شپې له مخې ډېر روښانه او ښه پېژندل کیږي . دا په داسې حال کې ده چې ژېړ رنګ د ورځې له مخې د نورو رنګونو په پرتله ښه پېژندل کیږي .

سور رنګ د شپې له مخې د سترګې د پردې هغه برخه نه راپاروي چې په تیاره کې سور رنګ تمییز کړي . او همدا لامل دي چې د حساسو فلمونو د جوړولو پر مهال په تیارو خونو کې سور رنګ کارول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په رنګونو د درملنې څرنګوالي

متخصصين وايې چې د هر بدن چاپېره سرابي يا سپک جسم وي، دا جسم د کمزورو رڼاګانو له يوې ډلې څخه عبارت دي چې له بدن څخه چاپېره وي او له څو مختلفو رنګونو څخه جوړ شوي وي، او له دې رنګونو څخه يې هر يو په بدن کې په يوه ځانګړې برخې پورې تړاو لري.د بېلګې په توګه سور رنګ د لاسونو ، پښو، وينې او پښتورګو لپاره. ژېړ رنګ د عصبي سيستم لپاره، بنفشه يي رنګ د زړه لپاره. او د هر انسان د سرابي يا سپک جسم رنګ د عاطفې ، روح او جسم له پلوه دهغه روغتيايي حالت غبرګوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





د درملنې په دې طريقه کې متخصص رنځورپوه لومړي ناروغي تشخيصوي ، بيا په ناروغی اخته برخه ځانګړو رنګونو ته وړاندې کوي ترڅو روغه شي او خپله دنده په سمه توګه ترسره کړي.

## د انسان کرکټر

## دهغه د خوښې

## له رنګونو پېژندل کيږي

مصري څېړونکي ډاکټر او انجينير حاتم فوزي چې له ( ساوت هامپټون ) پوهنتون څخه يې په رنګونو کې دکتورا کړې ، د رنګونو په اړه وايې : ( رنګونه د انسان کړنو او د هغه د ځانګړنو او صفاتو سره ډېرې اړيکې لري ...... او د انسان د خوښې له رنګ څخه دهغه ذوق او نفسي اړتياوې مالوميږي .

په همدې بنسټ ارواپوهنه وايې :

(ته راته ووايه چې کوم رنګ دې خوښيږي.... نو مخکې تر دې چې د ځان په اړه نور څه ووايې ، زه درته وايم چې ته څوک يې .)

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا په دې مانا چې د انسان د خوښې رنګ د هغه په اړه ډېر څه وايي .

په راتلونکو څو مخونو کې به د هر رنګ پر ځانګړتیاوو وغږیږو، او که تاسو د خپلې خوښې رنګ نه لرئ،نو کولی شې چې له همدې شېبې ځان ته داسې رنګ غوره کړئ چې پام مو ورواړوي . په دې سره به تاسو خپل مزاج او سلوک په سمه توګه وپېژنئ ، او دا به درته مالومه شي چې کوم وخت ، کوم رنګ پر تاسو اغېزه کوي او په اروائي حالت کې مو بدلون راولي . نو له همدا اوسه مو ځان ته رنګ وټاکئ.

## آسماني رنګ .... د فیلسوفانو رنګ

هغه کسان چې آسماني رنګ خوښوي په ټولیزه توګه دا ډول کسان ژورې اړیکې خوښوي چې ټول عمر دوام کوي ....
دداډول کسانو ملګري ډېر کم وي ځکه دوي تل دداسې کسانو په لټه کې وي چې دهمدوي په څېر وي او له خبرو پرته یې په موخه پوه شي ... دا ډول کسان دخپلو مخلصو ملګرو په مرسته کولي شي چې د سختو ګواښونو سره مقابله

(c) ketabton.com: The Digital Library





وکړي،خو کله چې له ناکامۍ سره مخامخ شي نو بې له کومې ګټې ډېر دردیږي او اروائي ستونزې ورته پیدا کیږي .

دا هغه رنګ دي چې د فکر، خیال او حکمت پورې ډېر تړاو لري .

د آسماني رنګ ماده په تورو انګورو،اینځر،توت، بانجان او د توتانو په ټولو کورنیو کې شتون لري. داماده د اکسایډ ضد ماده ګڼل کیږي . او ځینې څېړنې وایې چې د آسماني رنګ ماده د بدن په پوستکي کې د کولاجین[8] ماده راتازه کوي چې په پایله کې د پوستکي تازه والي او ښکلا ساتي او پوستکي ژر زړښت ته نه پرېږدي.

## زرغون ( شین ) رنګ ... آرام طبیعت

دا رنګ د بوټو رنګ دي . . دا یو مالوم حقیقت دي چې دا رنګ اعصاب آراموي، او هغه کسان چې شین رنګ خوښوي ډېري وختونه هغوي له ځانګړي او خپلواک کرکټر څخه برخمن وي .... دا ډول کسان پر خپل ځان ځانونه متکي ګوري

[8] هغه پروټین چې د بندونو ترمنځ شتون لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



، نو ځکه ډېري وختونه خپله پرېکړې کوي او د نورو نصیحتونو او مشورو ته غوږ نه نېدي ، که کله ددوي نظر غلط هم وي ، خو بیا هم ورڅخه نه اوړي او ټینګار پرې کوي.

دا ډول کسان تل هغه بریالیتوبونه چې په اّسانی ترلاسه کیږي نه خوښوي . دوي د سختو موقفو او درېځونو په لټه کې وي تر څو ورکې خپل استعدادونه او وړتیاوې ثابتې کړې ... دا ډول کسان تل په کار کولو ځان ثابتوي ، نه په تشو خبرو!

د شین ( زرغون ) رنګ ماده یا کلوروفیل د سبزیجاتو او شین رنګه مېوورنګ دي.دا رنګ په انسان کې د آرامتیا احساس راپیدا کوي، او د سوکالی،توازن،خوش بینی او د خیر رنګ ګڼل کیږي. او د غذایي پلوه، شنه (زرغونه ) ماده یا کلورفیل په بدن کې په غذایي نظام کې توازن رامنځته کوي .

دا ماده خپله هم پاکه ده او د انسان دبدن د حجرو پاکوونکې ماده ګڼل کیږي، همدا راز شین رنګه ماده د بکتریاوو په وړاندې د بدن مقاومت هم پیاوړي کوي چې یو له دغه باکتریاوو څخه هم د "E-CDI" خطرناکه بکتریا ده . همدا راز دا ماده د سرطاني تومورونو د راښکاره کېدو سره هم مقاومت کوي او نه یې پرېږدي چې په بدن حمله وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## سور رنګ ... د اور سرې

دا رنګ که د ځینو خطرناکو شیانو رنګ دي خو له بل پلوه یې بیاګټې هم زیاتې دي ... سور رنګ د اور رنګ دي او اور هغه څه دي چې انسان یې له تودوخې ګټه اخلي ، همدا راز سور رنګ د وینې رنګ دي او وینه د ژوند راز دي .

هغه کسان چې سور رنګ یې خوښیږي ، هڅه کوي چې د نورو پام ځان ته راجلب کړي ، ځکه دا رنګ ډېر ژر د خلکو پام ځان ته راړوي او پر سترګو یې جادو کوي ... دا ډول کسان د ډینامیکي کرکتر خاوندان وي او ځان هیڅکله وروسته او په دویمه رتبه کې نه حسابوي .... دا ډول کسان خبرو اترو او مناقشې سره ډېره لېوالتیا ښایې، د یادونې وړ ده چې دوي کله په خپله کورنۍ کې د کورنۍ له غړو سره او یا هم له ملګرو سره په خبرو اترو او مباحثو کې دومره لیرې لاړ شي چې مباحثه یې د ترینګلتیا تر بریده ورسیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سور رنګ د انرژۍ،ژوند،ګرڼدیتوب او زړورتیا رنګ ګڼل کیږي .

د سور رنګ ماده چې رومیانو او داسې نورو سبزیجاتو او مېوو ته سور رنګ ورکوي، د ( لایکوبین ) په نامه یادیږي. یو لړ امریکایي څېړنو ښودلې چې دا د زړه د ناروغۍ اوپه نارینه وو کې د پروستات د سرطان د راپیداکېدو مخه نیسي . نوموړې ماده د اوکسایډ ضد هم ده، یو لړ ساینسي څېړنو ښودلې چې اوکسایډ په بدن کې د ځینو ناروغیو د راپیداکېدو لامل ګرځي، او په هر څومره اندازه چې په مېوو او سبزیجاتو کې د سور رنګ ماده زیاتیږي په هغومره اندازه ورکې د ( پیټاکاروټین ) ماده زیاتیږي چې دا په بدن کې په A ویټامین باندې بدلیږي . او په پایله کې A ویټامین دبدن پوستکي ته ډېره ګټه رسوي او د ناروغیو په وړاندې د بدن مقاومت پیاوړې کوي . خوپه زیاته اندازه د سره رنګ بوټو خوړل ښایې ددې لامل هم وګرځي چې د ادرینال غده 9 زیانمنه کړي، او کله چې دا غده زیانمنه شي دا ډول انسانان ډېر ژر په غوسه کیږي او ژر غبرګون ښایي .

---

[9] دا یو ډول هرمون دي چې بدن یې د غوسې ، وېرې او ورخطایي پرمهال تولیدوي ، دا ددې لامل ګرځي چې انسان ژر غبرګون وښایې .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ژېړ رنګ ...

ژېړ رنګ د لمر د وړانګو رنګ دي ....دا رنګ انسان ته د خوشبینی او لویي احساس ورکوي....هغه کسان چې ژېړ رنګ خوښوي هغوي ډېر ټولنیز ښوي لري.دا ډول کسان تل د خوشالی په لټه کې وي او دا خوښوي چې نور خلک هم ورسره خوشالي شریکه کړي .

هغه کسان چې دا رنګ خوښوي دهغوي طبیعت وخت په وخت بدلیږي ...که څه هم دا ډول کسان ریښتینې عاطفې لري ، خو بیا هم دوي ډېر سترړي وي، د یادونې وړ ده چې دا ډول کسان د اوږدې مودې لپاره یوه اړیکه نه شي ساتلي ... ډېر ژر سترړي کیږي او اعصاب یې راپاریږي او په ناڅاپي توګه اړیکه شلوي. دا رنګ د خوشبینی رنګ ګڼل کیږي .

د ژېړ رنګ ماده د ( لوتین ) ماده ده چې په ژېړو مرچکو ، کېلو،جوارو، لیمون، اناناس (زرد جوبه ) او داسې نورو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتون لري ،او د کرنې پوهان وايې چې د ژېړ رنګه مېوو خوړل په انسان کې د مستۍ روحيه زياتوي ، او د هضمي سيستم او په ځانګړې توګه د ځګر او کولمو فعاليت راپاروي او لا يې ګړندي کوي .

## بنفشه يي رنګـ ...

دا رنګـ د انسان په نفس کې خپګان پيدا کوي ... هغه کسان چې بنفشه يي رنګـ خوښوي، تل د خيالونو په نړۍ‌کې ژوند کوي او ددوي زړګونه خوبونه ،وسوسې او تمې يې له واقعيته ليرې ساتي ... هغه‌کسان چې دا رنګـ يې خوښيږي تل په دې ټينګار کوي چې بايد دده کرکتر هرڅوک خوښ کړي او هيڅ مخالفـ ونه لري . که څه هم نوموړي به په دې پوهيږي چې دا کار له واقعيته ليرې دي خو بيا هم په دې ټينګار کوي چې ټول خلکـ ورسره ښه چلند وکړي، ځکه نوموړي په دې پکر دي چې دي يوازيني انسان دي چې ځانته د خلکو د راجلبولو وړتيا لري ، د نورو خلکو په څېر عادي انسان نه دي او د کشش قوه يې تر بل هر چا پياوړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا ډول کسان تل هڅه کوي چې سختې تجربې ترسره کړي او په دې لاره کې له ټولو خنډونو تېر شي، دوي په دې کار سره غواړي ترڅو خلکو ته ثابته کړي چې دوي ډېر سخت او ناشوني کارونه هم کولي شي . یا په بله وینا ، دوي تل ددې لپوال وي چې ددوي ټولې پېښې په جادویي توګه ترسره شي او ددې کار کولو لپاره هڅې هم کوي.

ددې ډول کسانو د نوښت وړتیا هم زیاته وي ، او د هر ډول هنرونو خوند څکي او ځان ورکې آزمایې . خو که دوي هرڅومره کار وکړي بیا هم دوي په شته امکاناتو بسنه نه کوي او په پای کې دا عتراف کوي چې ګویا ددوي امکانات محدود دي .دوي له هغه کسانو سره ملګرتیا ډېره خوښوي چې په دوامداره توګه دده ستاینه کوي ، له جذابیته یې متاثر وي او دده غرور زغمي .

کله چې دا ډول کسان له ناکامۍ سره مخ کیږي نو هغه خوبونه چې له واقعیته لیرې دي خو دوي ورته په تمه دي ، له هغې تیریږي ... خو بیا ډېر ژر رابیداریږي ، خپلې مړې شوې او له منځه تللې وړتیاوې بیا په لاس راوړي او له سره پیل کوي خو هیڅکله ماته نه مني .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# تک نسواري رنګ ...

ددې رنګ ماده هغه مادې ته ورته ماده ده لکه په چایو ، قهوه او داسې نورو شیانو کې چې شتون لري ، دا ماده د ( پولیفینول ) کورنۍ څخه ده، او د ( فینول ) ماده چې په چایو کې په زیاته کچه شتون لري د جسم په پاکوالي کې مهم رول لري . او همدا راز د تومور ( پړسوب ) په مخنیوي کې هم ډېره مرسته کوي ، ځکه دا ماده د اوکسایډ ضد ماده ګڼل کیږي . دا ماده په چکلیټ کې هم شتون لري، چکلیټ د منګانیز یا د اوسپنې عناصر هم لري ، نو ځکه کله چې چکلیټ په زیاته اندازه غوړ او شکر ونه لري ، او په مناسبه اندازه وخوړل شي نو ګټې یې هم زیاتې وي.

دلته د ( بایو فلافونویډز[10] (BIOFLAVONOIDS) عناصر هم شتون لري .او دا عناصر ښایې په بوټوکې د رنګونو په بڼه راښکاره نه شي ، خو د څېړنو له مخې دا عناصر د بدن لپاره ډېر ګټور دي . له دې عناصرو څخه یې ځینې د اوکسایډ ضد

---

[10] ځینې مواد چې په مېوو او سبزیجاتو کې شتون لري ، او انسان د یو شمېر کینسر او د زړه له ناروغیو ژغوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دي ، او ځينې يې هرمونونه دي . دا عناصر په مېوو او سبزيجاتو کې شتون لري او د سرطان او د يو شمېر د زړه د ناروغيو مخنيوي کوي. د بېلګې په توګه په بوټو کې د ا ستروجين (estrogen) هرمون هغه هرمون دي چې په ( صويابين) کې په زياته اندازه ترسترګو کيږي . او ويل کيږي چې په ښځو کې د تيونو د سرطان څخه په مخنيوي، او په نارينه وو کې د پروستات د سرطان په مخنيوي کې مهم رول لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د رنګونو ګډوالي ( اختلاط )

پوهان وايې چې د بنسټيزو رنګونونو ترمنځ اختلاط او ګډوالي کېداي شي پرانسان ډېر مؤثر او مثبت اغېز ولري . نو په دې بنسټ د بېلګې په توګه د نارنجي رنګه جامو اغوستل چې د سور او ژېړ رنګونو د ګډوالي په پايله کې منځته راغلي انسان ته ډېره انرژي ورکوي او د انسان ذهني وړتيا زياتوي. دا په دې مانا چې سور رنګ د ډېرې انرژۍ د راپيداکېدو لامل کيږي ، او ژېړ رنګ د ذهني وړتيا د پياوړتيا لامل ګرځي . نو ويلي شو چې د نارنجي رنګ استعمال انسان ته دواړه ګټې ورکوي .

په دې بنسټ د کور، دفتر او هغه ځايونه چې سروکار مو ورسره زيات وي ، دهغې لپاره ښه او وړ رنګونه وټاکئ ، هڅه وکړئ چې داسې رنګ وټاکئ چې ستاسو پر نفس او اروا باندې مثبته اغېزه وکړي .

ساينس پوهان د ډېرو څېړنو او تجربو وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې تودوخه نه يوازې دا چې يو مادي شي دي ، بلکې اروايي شي هم دي ، ځکه د انسان پر اروا باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library





مستقیمه اغېزه کوي . دوي په دې لړ کې لاندې لاسته راوړنې وکړې : هغه رنګونه چې د انسان په نفس کې د ګرمی احساس راپیدا کوي عبارت دي له سور او نارنجي رنګونو څخه ، همدا راز هغه رنګونه چې له دې دوه رنګونو څخه راوځي لکه : تک سور او تېز نارنجي رنګونه هم د انسان په نفس کې د ګرموالي احساس راپیدا کوي .

ځلانده سره رنګونه ګرموالي راپیدا کوي ، خو په عین وخت کې د یو ډول هیجاني حالت د راپیدا کېدو لامل هم ګرځي چې په پایله کې یې انسان ډېر ژر په غوسه او غبرګون شایې .

ژېړ رنګ انسان ته یو څه د تودوخه احساس راپیدا کوي ، او همدا راز نسواري او سور بخن رنګونه هم د تودوخې احساس ورکوي. او په هر څومره اندازه چې ددې دوه رنګونو درجه راکمیږي په هغومره اندازه یې انسان سره حرارت او ګرموالي احساس هم راکمیږي .

ایریي او ژېړ رنګونه د خوا په ګرځېدو کې مرسته کوي ، دا په داسې حال کې ده چې شین ( زرغون ) رنګ او آسماني رنګونه د خواګرځېدنې مخنیوي کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ښځې او رنګونه

ښځې رنګونو سره ډېر تړاو لري، دا به هم مبالغه نه وي چې د ښځې ژوند په بشپړ ډول په رنګونو پورې تړلي دي. د ښځو پر مخونو د ډول ډول رنګونو ځلا ، دهغوي د جامو ښکلي او بېلا بېل رنګونه ، دهغوي په کورکې د دېوالونو او د کور د لوزامو ښکلي ښکلي رنګونه، دهغوي پر دسترخوان مختلف خواړه او رنګا رنګ مېوې ... دا ټول هغه څه دي چې ښځه ورسره ډېر سروکار لري او ورته خوښي وربخښي ، نوځکه ویلي شو چې رنګ د ښځو د ژوند نه جلا کېدونکې برخه ده .

د ښځو اړیکې له له رنګونو سره تردې هم زیاتې دي ، دا په دې مانا چې رنګونه د ښځې په روغتیایي او اروایي حالت ډېرې اغېزې لري، پوهان وايې ، کله چې هررنګ ځانته جلا غبرګون او څپې لري نو ځکه رنګونه د ناروغیو ددرملنې غوره وسیله ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library





پوهان په دې باور دي چې په بدن کې ټولې حجرې غبرګون لرونکې وي ، کله چې انسان د ښه او روغ صحت خاوند وي نو دا غبرګون په ډېر پیاوړي او مثبت ډول له دې حجرو راوځي ، خو کله چې انسان په کومه ناروغۍ اخته وي نو بیا دا غبرګون غیر متوازن وي .

دا په داسې حال کې ده چې یوه بله نظریه بیا وایې چې د بدن مختلفې برخې او د ناروغۍ بېلا بېل حالات او د انسان عاطفي وضعیت له هغه سره مرسته کي چې په ښه توګه مختلف رنګونه ځان ته راجلب کړي ، اغېز پرې وکړي او ګټه ترې واخلي . او کله چې کوم بدن توازن له لاسه ورکړي وي نو په طبیعي توګه د هغه رنګونو په لټه کې وي چې ورته اړتیا لري .

رنګونه د موسیقي په څېر دانسان پر اروا اغېزه کوي، رنګونو دداسې یو ځواک تعبیر کوي چې د انسان په ژوندانه کې ډېر اغېز لري، خو هغه احساس چې الله جل جلاله د رنګونو په وړاندې په ښځو کې پیدا کړي ، تر ټولو پیاوړي او ستر احساس ګڼل کیږي . همدا لامل دي چې د اورپا ځینو پوهانو دې ټکي ته پام کړي او د څېړنو په پایلو کې یې دا ښودلې چې رنګونه پر ښځو تر بل هر چا ډېره اغېزه لري . همدا راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارواپوهانو دا هم ثابته کړې چې رنګونه د انسان د اروا او نفس سره ډېرې ژورې او نه بېلېدونکې اړیکې لري ، نو ځکه یې پرې اغېزې هم ښکاره دي .

**ډاکترګریګوري کونوي وایې :**

ګڼو څېړنو او تجربو په ښځه باندې د رنګونو اغېز په لاندې ټکو کې په ګوته کړې :

- رنګونه د ښځې په تولید، کار او دهغې پر ذهني او اروايي حالت باندې ډېره اغېزه کوي ، یا په بله وینا ، رنګونه د ښځو د نوښت وړتیا زیاتوي.
- رنګونه د ښځې په روغتیا اغېزه لري ، او د ناروغیو په درملنه کې یې مهم رول لوبوي، رنګونه د ښځې په مزاج، روغتیا او په فعالیت تاثیر کوي .
- ځینې رنګونه په ښځه کې مینه او ځینې ورکې نفرت پیدا کوي ، او ځینې رنګونه ښځه له مادي نړۍ روحاني نړۍ بیايي .
- ځینې رنګونه ښځې ته خوشالي ورکوي او ځینې ورته بیا د دردونو لامل ګرځي ، او ځینې نور یې بیا ورته د هیلو د پیداکېدو الهام ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځینې رنګونه د ښځې ارادې پیاوړې کوي ، او ځینې یې بیا ژوندی او پیاوړې ارادې وژني .

طبیعي رنګونه د نړۍ ستر تولید ګڼل کیږي او د ښځې پر ژوندانه ډېر اغېز لري ، ښځه په خپل چاپیریال کې تل د رنګونو په ننداره وي ، کله چې ښځه خپلې سترګې راوغړوي او پر شین آسمان یې سترګې ننښلي ،او کله چې په خپل چاپیریال کې ډول ډول بوټي او رنګارنګ ګلان ګوري دهغې په اروا کې ځانګړي احساس راپیدا کوي ، همدا احساس پرې تاثیر کوي او بالاآخره یې اروایي ناروغی له منځه ځي .

**رولاند بلاک د رنګونو په اړه وایې :**

شین یا زرغون رنګ له ښځې سره په ذهني آرامتیا او سکون کې مرسته کوي ، شین رنګ د کمان رستم د اوو رنګونو په منځ کې ځای لري . دا رنګ چې د نورو رنګونو په پرتله طبیعي رنګ بلل کیږي الله جل جلاله د ونو د پاڼو ، باغونو او شنو دښتو لپاره ټاکلي ، دا هغه رنګ دي چې انسان ته خوښي ورکوي او عصبي سیستم یې آراموي . کله چې انسان له ستړو کارونو راوګرځي، شوریې ذهن ورګډ کړي ، نو الله جل جلاله

(c) ketabton.com: The Digital Library





ورته د ذهني سکون او د دمې لپاره شين رنګ په ډالۍ کې ورکړي .

ژېړ رنګ د ښځې ذهن تېزوي .

سور رنګ  د وينې په جريان کې د ادرينالين د مادې د افراز لپاره غدې راپاروي، او د زړه ټکان او د وينې جريان  پياوړي کوي .

آسماني رنګ د انسان ستړيا سره مبارزه کوي او هغه ته آرام ورکوي. هغه څوک چې د رنګونو په مانا او اغېز پوهيږي، نو هغه په دې هم پوهيږي چې د آسمان  او د سمندر د اوبو شينوالي انسان ته څومره آرام او دمه ورکوي .

بنفشه يي رنګ انسان ته د نوښت وړتيا ورکوي ، دا رنګ د مغزو د پاسنۍ برخې حجرو ته خواړه، آرامتيا او سکون وربخښي، همدا راز دا رنګ دانسان وجدان او احساسات لوړ بيايي ، نو ځکه ويلي شو چې دا رنګ د ادب ، شعر ، موسيقي او هنري برخو کې له انسان سره ډېره مرسته کوي.

دا چې رنګونه دانسان پر اروا څومره اغېزه لري ، په دې اړه د اروا پوهنې استاذه ډاکتره **ناديه عبدالقادر** وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library





(( رنګونه په نړۍ کې یو ستر ځواک ګڼل کیږي او د ښځې پر ژوندانه ډېره اغېزه لري، ښځه چې هر لور ته مخ اړوي نو پر رنګونو یې سترګې لګیږي ، خو په اړه یې ژور پکر نه دي کړي ، او نه دې ته پام شوي چې باید د رنګونو له رازونو ځان خبر کړي او په ارزښت یې ځان پوه کړي . ))

نوموړې زیاتوي :

(( دا چې رنګونه په ښځه څومره اغېزې لري او پر وړاندې یې ځینې وختونه کوم غبرګون ښايې، غواړم په دې اړه د یوې هټۍ کیسه بیان کړم (( په شیکاګو کې د غوښې یوې هټۍ ته پیریدونکي (مشتریان ) ډېر کم راتلل ،دغوښې پلورونکي له دې حالته شکایت درلود او هر وخت به یې تاوان کاوه . او لامل یې هم دا وو چې د هټۍ دېوالونه او چت په ژېړ رنګ باندې رنګ وو ، د هټۍ مالک په دې نه پوهېده چې ژېړ رنګ غوښه داسې ښايې لکه خوسا چې وي ، نو ځکه ورته مېرمنو ډېره مراجعه نه کوله ، د رنګونو یوه متخصص نوموړې دې ټکي ته متوجې کړ او ورته یې وویل چې د هټۍ رنګ بدل کړي ،هټیوال ژېړ رنګ لیرې کړ او هټۍ یې آسماني رنګ ته نږدې په یوه بل رنګ باندې رنګ کړه،کله چې نوموړي د هټۍ رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library





بدل کړي نو غوښې پیریدونکو ته سور رنګه ښکارېدې او هډوکي یې تک سپین مالومېدل ، خلکو به داسې فکر کاوه چې ګویا بیخي تازه دي ، په دې کار سره پیریدونکي او په ځانګړې توګه زیاتې مېرمنې د غوښې اخیستلو لپاره ورتللې .))

## (ښځه ... او د ګلانو رنګونه )

کله چې یوه ښځه ډېره ښکلې وي او ښکلا یې وروستي حد ته رسېدلي وي ، نو تازه ، ښکلي او خلاص ګل  دهغې سمبول ګڼل کیږي .  اَن د اروپا پوهان په دې اند دي چې د ښځې طبیعي حالت د ګلانو پورې تړلي دي . او دواړه له یو بل هیڅکله  نه جلا کیږي .

د اروپا یو عالم رونالډبلاک وایې :-

دلته ځینې علمي اشارې شته دي، ګلان د اشارو هغه  اغېزمنه ژبه ده چې له لارې یې ښځې ته ډېر څه انتقالیږي او ویلو ته یې هم اړتیا نشته . لکه: ــ

د غاټول سور ګل : دا ګل د ښکلې ښځې لپاره کارول کیږي ، او د مینې او عاطفې مانا لیږدوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یاسمین ګل : دا ګل د نرمې ښځې لپاره د اشارو ژبه ده ، او د دې لارې دا موخه انتقالیږي چې (مینه په ډېر احترام سره)

د بنفشې ګل : دا ګل چې بنفشه یي رنګ لري متواضعې او عاجزې ښځې ته د اشارې ژبه ګڼل کیږي ، ددې ګل ژبه ، یانې (په چوپتیا کې مینه کول) .

آسماني بنفشه : دا ګل د مخلصې ښځې لپاره د اشارې ژبه ده .

سور ګل : دا ګل دهغې ښځې لپاره د اشارې ژبه ده چې ډېره عاطفه ولري . او مانا یې داده چې ، (ډېره عاطفه) .

سپین ګل : په دې ګل باندې پاکې ښځې ته خطاب کیږي او د یوې روغې او وړ ښځې مانا ورکوي .

ژېړ ګل : دا رنګه ګل باندې غیرتي ښځې ته خطاب کیږي او مانا یې دا ده چې (زه تل ستا په پکر کې یم)

ګلابي رنګه ګل : په دې رنګ ګل باندې مینه ناکې ښځې ته خطاب کیږي. او دا مانا ورانتقالوي چې (دوامداره عاطفه بدلون نه مومي) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**آسماني ګل :** په دې رنګ ګل باندې پوره ( کاملې ) ښځې ته خطاب کیږي او دا مانا ورکوي ( ته تل د احترام وړ یې )

**سپین یاسمین :** په دې باندې سرزورې ښځې ته خطاب کیږي او دا مانا ورکوي چې ( ولې هیڅ مینه نه کوې ؟ )

**ژېړ یاسمین :** په دې باندې نرمې ښځې ته خطاب کیږي او دا مانا ورکوي چې ( غواړم چې ستا لپاره هرڅه شم )

**سپین ګلاب :** په دې باندې شکي ښځې ته خطاب کیږي ، او ورته وایې چې ( زما په مینه باور وکړه )

**ګلابي رنګه ګلاب :** په دې باندې ښکلې ښځې ته خطاب کیږي او ورته وایې چې ( زه درسره ډېره زیاته مینه لرم )

**سور ګلاب :** په دې باندې سرکښې ښځې ته خطاب کیږي او ورته وایې چې ( زه ستا په اخلاص باوري یم )

**د کامیلیا سپین ګل :** په دې باندې مغرورې ښځې ته خطاب کیږي او ورته وایې چې ( ته زما مینه سپکه ګڼې )

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کامیلیا سور ګل : په دې باندې د ښځې لویې ته خطاب کیږي او ورته وایې چې ( ته په ټوله نړۍ‌کې تر ټولو ښکلې ښځه یې )

د کامیلیا ګلابي رنګه ګل : په دې رنګ باندې هغه ښځې ته خطاب کیږي چې په خپله ښکلا ویاړي او ښودنه یې کوي او ورته وایې چې (زه پر دې ویاړم چې تاسره مینه کوم )

د ریدي آسماني رنګه ګل : په دې رنګ ګل باندې منونکې ښځې ته خطاب کیږي ، او د وفادارۍ مانا ورکوي او وایې ( زه تل ستا منونکې یم )

د ریدي سور ګل : په دې رنګ ګل باندې هوښیارې ښځې ته خطاب کیږي او د وفادارۍ مانا ورکوي او وایې : ( زه په خپل پکر یم او په هوښیارۍ مینه کوم )

د ریدي ژیړ ګل : په دې ګل باندې غیرتي ښځې ته خطاب کیږي او ورته وایې : ( آیا زه به د مینې مېوه ترلاسه کړم ؟ )

د اکاسي ژیړ ګل : دا ګل د رښتونولۍ مانا ورکوي ، او ټولنیزې ښځې ته پرې خطاب کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دګلانو د رنګونو په اړه ډاکتر میلتون کارلتون وایې :**

**( دګلانو مختلف رنګونه جلا جلا ماناګانې لري، شین ( زرغون ) رنګ د هیلې او امید په مانا راځي ، که دا رنګ ګل په کومه غنچه کې په زیاته اندازه ولیدل شي نو دا په هیلې او امید باندې دلالت کوي.**

**سور رنګ د پیاوړي او ژورې مینې څخه تعبیر کوي .**

**سپین رنګ په پاکوالي دلالت کوي .**

**آسماني رنګ په وفاء او د زړه په پاکوالي باندې دلالت کوي .**

**پر ښځو دګلانو د اغېزې په برخه کې ډاکتر میلتون زیاتوي :**

**( ددې لپاره چې د ښځې او خاوند ترمنځ مینه تل پاتې شي، خاوند باید کله ناکله دګلو یوه غنچه خپلې مېرمنې ته د ډالۍ په توګه ورکړي ، د ګل اغېزه پر ښځه د جادو تر اغېز کم نه دي ، تاسو هم کم تر کمه په اونۍ کې یو ځل خپلې مېرمنې ته ګل په ډالۍ کې ورکړئ او کرکې ته لاره مه ورکوئ چې د مینې اړیکې مو زیانمنې کړي . )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګونه او حیوانات

فکر وکړئ چې حیوان په خپل چاپېریال کې رنګونه څنګه ګوري ؟ او آیا هغه څه چې مونږ یې په کومو رنګونو ګورو، همداسې یې ژوي او مرغان هم ګوري ؟ آیا انسانان او ژوي نړۍ ته په یوه سترګه ګوري ؟ او آیا دوي له ښکلو منظرو او بېلا بېلو ښکلو او زړه راښکونکو رنګونو څخه یو ډول خوند اخلي ؟

که موږ خپل چاپېریال ته وګورو ، نو په مختلفو ژویو او مرغانو مو سترګې لویږي، دوي ډول ډول رنګونه لري ، مونږ د پتنګانو او شوپرکونو له ښکلو رنګونو خوند اخلو ، د تاووسانو رنګینې او ښکلې بڼکې راته خوښې رابخښي او زړه ته مو آرام ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ژوي په ښکلو منظرو کې بېلا بېل رنګونه ګوري ، او خوند ترې اخلي ، ددې راز په څه کې دی ؟

ځینو پوهانو یوازې د حشراتو رنګونه تر څېړنې لاندې نیولي او هغه یې تحلیل کړي . په دې لړ کې هغوي هڅه کړې چې د رنګونو رازونه او ترمنځ یې توپیرونه مالوم او وڅېړي .

همدا راز پوهانو دا هم څېړلې چې حیوانات او مرغان په خپل چاپېریال کې مختلفو رنګونو ته څنګه ګوري او څنګه پرې اغېزې کوي .

## چرګه او بنفشه یي رنګ :

په دې برخه کې پوهانو ځینې تجربې ترسره کړي ، دوی د کمان رستم په اوو رنګونو دانې وویشلې او بیا یې د چرګانو مخې ته وشیندلې . په پایله کې پوهانو ته دا روښانه شوه چې چرګانو له هغه ځایه دانې ډېرې خوړلې وې چې د سور ، ژېړ او شین ( زرغون ) رنګونو وړانګې وربانديې لګېدلې وې. دا په داسې حال کې ده چې له هغه ځایه یې دانې کمې خوړلې وې چې د اًسماني رنګ وړانګې پرې پرتې وې .د یادونې وړ ده چې ، د بنفشه یي رنګ سیمې ته هیڅ ورنږدې شوي هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او يوه دانه يې هم ترې نه وه خوړلې . نو مالومه شوه چې چرګان د بنفشه يي رنګ وړانګو ته نه ورنږدې کيږي . او د حيرانتيا خبره خو لا دا ده چې دا په تجربو او څېړنو ثابت حقيقت دي چې د مرغانو لپاره داسې خواږه شتون نه لري چې آسماني رنګ او يا بنفشه يي رنګ ولري .



## ليک لېږدوونکې کوترې او زرغون رنګ :

يادونه وشوه چې چرګان هغه ځاي ته نه ورنږدې کيږي چې هلته د بنفشه يي رنګ وړانګې خپرې وي ،دا چې شين رنګ پر ليک لېږدوونکې کوتره څومره اغېزه کوي ، په دې برخه کې پوهانو ځينې تجربې ترسره کړي ، دوي د سليوليد څخه په جوړو شويو عينکو باندې د ليک لېږدوونکې کوترې سترګې وپوښلې ، د يادونې وړ ده چې دا عينکې له مختلفو رنګونو څخه جوړې شوې وې . ددې لپاره چې دا ثابته شي چې آيا رنګونه د کوترو پر سترګو هم اغېزې کوي، او آيا دا کوتره بېرته خپل کور ته راستنېدې شي او که نه ي ، پوهانو د کوترې سترګې څو ځله په مختلفو رنګونو عينکو وپوښلې او په هواء کې يې خوشې کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دوي ته په پاي کې دا ثابته شوه چې هغه عينکې چې ژېړ او سور رنګ يې درلود دکوترې په ببرته راستنېدو کې خنډ ونه ګرځېدې ، کوتره کولي شي چې له دغه دوه رنګونو څخه خپله مخه په څرګنده توګه ووينې، خو هغه عينکې چې شين (زرغون ) او آسماني رنګ يې درلود، کوتره يې دېته نه پرېښوده چې خپله مخه وګورې او ببرته کورته راستنه شي، ددې عينکو په اچولو سره ورته هرڅه توره تياره ښکارېده .

## د تاووس د ښکلا راز :

د تاووس ښکلا دهغې د بڼکو په مختلفو رنګونو کې ده ، خو پوښتنه داده چې دا رنګونه له کوم ځايه سرچينه اخلي ؟

آيا دا رنګونه له کيمياوي مادو څخه جوړ شوي او که کومه بله سرچينه لري ؟

هغه ښکلي او زړه راښکونکي رنګونه چې مونږ يې د تاووس او نورو مرغانو په بڼکو کې ګورو ، له هوايي پوکڼيو څخه سرچينه اخلي، دا هوايي پوکڼۍ د بڼکو په مختلفو برخو کې ځاي پر ځاي شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





**تاسو به ليدلي وي چې کله رڼا د ښيښې له يوې ټوټې څخه تيريږي ، دا رڼا د کمان رستم اووه رنګونو ته تجزيه کيږي ، دلته هم داسې ده ، کله چې په دې هوايي پوکڼيو د لمر رڼا وغورځيږي او بيا شين ، ژيړ او سور رنګ ته تجزيه شي ،نو زمونږ سترګو ته مختلف رنګونه غبرګوي ... الله جل جلاله ډېر ښکلي پيداکوونکي ذات دي ، او يوازې هغه د عبادت او ستاينې وړ دي .**

## د شاتو مچۍ د بنفشې نه اًخوا رنګ پېژني :

**د شاتو مچۍ ډېر رنګونه پېژندلي شي، ( ما وراء بنفشه ) يا له بنفشې نه اًخوا رنګ هغه رنګ دي چې انسان يې نه شي ليدلي خو د شاتو مچۍ يې پېژندلي شي. د شاتو مچۍ سور رنګ نه شي پېژندلي او تک تور ورته مالوميږي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library





## آیا پیشوګانې او سپي د رنګونو تمییز کولی شي ؟

تجربو ښودلې چې پیشوګانې او سپي د رنګونو تمییز نه شي کولی .

## آیا بیزوګان ( شادي )رنګونه پېژندلی شي ؟

تجربو ښودلې چې بیزو یا شادي د رنګونو تمییز کولی شي ، په دې لړ کې پوهانو ځینې تجربې ترسره کړې ، ساینس پوهانو په یوه زېرمتون کې خواړه کېښودل او په یوه ځانګړي رنګ یې دا زېرمتون رنګ کړ او بیا یې ورته بیزو ورخوشې کړه، په پای کې پوهانو ته ثابته شوه چې بیزوګانې هغو زېرمتونونو ته نه ورتللې چې دهغې رنګ سره اشنا نه وې ، بلکې هغو زېرمتونونو ته ډېرې تللې چې دهغې رنګ سره بلدې وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آیا د سره رنګ ټوټه جنګي غوایان راپاروي ؟

پوهان په دې باور دي چې ډېري تي لرونکي ژوي د رنګونو تمييز نه شي کولي ، دوي په دې اند دي چې يوازې سره ټوټه لکه څنګه چې خلک په دې باور دي د جنګي غوايي په راپارولو کې رول نه لري ، بلکې دهغه مخې ته چې هر رنګه ټوټه وخوځول شي ، د غوايي پام ځان ته واړوي او راپارېږي .

دا چې ډېري تي لرونکي ژوي د رنګونو تمييز نه شي کولي، دا دهغوي د ژوند کولو طريقې پورې اړه لري ، ځکه ډېري ژوي لکه زمريان او وحشي غواګانې او داسې نور ژوي د شپې لخوا په تياره کې ښکار کوي ، او همدا لامل دي چې ډېري تي لرونکي ژوي د رنګونو تمييز هم نه شي کولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګونه او حشرات

په حشراتو کې رنګونه دا درې عوامل لري :

## کیمیاوي عوامل :

دا هغه عامل دي چې رنګ یې کیمیاوي ترکیب ولري ، او دا کیمیاوي ترکیبونه د جوړوني او د له منځه وړني دوه عملیوپه پایله کې رامنځته کیږي . د رنګونو هغه مادې چې پروټیني اصل ولري ، حشرې ته یوه ډول مبهم رنګونه ورکوي، دا رنګونه کله ایره یي وي او کله تېز نسواري وي . دا په داسې حال کې ده چې د رنګ دا مادې چې له فولیک اسیډ 11[11]څخه جوړیږي حشرې ته تک ژېړ رنګ ورکوي . دا حالت مونږ په یو شمېر حشراتو کې ګورو .

همدا راز هغه چینجي چې ډېر بندونه لري او ځیني حشرات چې شنه او سره رنګونه لري ، لامل یې د شنه کلوروفیل او د سره هیموګلوبین مادې دي .یانې کلوروفیل او هیموګلوبین

[11] داهغه ویټامین دي چې د ونو په پاڼو او په ینه کې پیداکیږي ، او بدن ورته د وینې د سرو کرویاتو د تولید لپاره ډېره اړتیا لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دوي ته شنه او سره رنګونه ورکړي دي . ډېري هغه چينجي چې ډېر بندونه لري او د ونو شنې پاڼې خوري شين ( زرغون ) رنګونه لري .

## طبيعي عوامل :

له دې څخه مطلب دادي چې د حشراتو په بدن ځينې مشخصې برخې يا دهغې بهرني اړخ د رڼا ځانګړنې لري ، دا رڼا کمان رستم راپيدا کوي او ځانګړي رنګ لري . پوهانو دا کشف کړې چې د حشراتو بهرني اړخ نرمې پردې لري ، دا پردې د وړانګو د ماتېدنې ( انکسار ) لامل ګرځي . همدا راز دا پردې وړانګې تحليلوي او په پايله کې ترې ډول ډول ښکلي رنګونه راوځي .

هغه وړانګې چې د حشراتو په دې پردو باندې پرېوځي غبرګيږي کوي او په پايله کې د حشراتو رنګونه ځلانده او روښانه ښکاري .

دا پردې يو د بل له پاسه جوړې شوي وي ، همدا لامل دي چې کله کله ځينې حشرات مختلف رنګونه لري او ډېر ښکلي ښکاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د کیمیاوي او طبیعي عواملو ګډوالي :

دا په دې مانا چې د حشراتو رنګ د کیمیاوي مادې او د رڼا د یوځای کېدو په پایله کې رامنځته شوي وي . کله چې کیمیاوي رنګونه له طبیعي رنګونو سره یوځای شي په پایله کې ترې ښکلي او زړه راښکونکي رنګونه راوځي ، چې بیا یې هر یو خپلې ځانګړنې لري .

رنګونه د حشراتو په نړۍ کې د هغوي په ساتنه کې مهم رول لري ، ددوي په ترکیب کې ښکاره توپیرونه ترسترګو کیږي ، دا توپیرونه نارینه حشرات له ښځینه وو بېلوي ،د بېلګې په توګه د ځینو نارینه حشراتو په مخامخ وزر باندې یو توربخن خال وي ،یا د ځینو ښځینه حشراتو دخېټې وروستۍ برخه ښکلي نارنجي رنګ لري . او یا کېدای شي د ښځینه حشرې رنګ په بشپړ ډول د نارینه له رنګ څخه بدل وي . چې دا حالت د پتنګانو په کورنۍ کې ډېر ترسترګو کیږي . او یا کېدای شي د کال په فصلونو کې ځینې حشرات مختلف رنګونه ولري ، او نظر موسمونو ته یې رنګونه بدل رابدل شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رنګولو ډولونه :

## بدلېدونکي رنګ :

**په دې حالت کې ځینې حشرات خپل اصلي رنګ په بل رنګ باندې بدلوي، دا کار یا د دښمن له خطر څخه د ژغورنې په موخه کوي ، او یا یې د ښکار نیولو لپاره کوي . لکه د ( مانتیس )12 حشره . دا حشره خپل ځان د ګلانو د پاڼو د رنګ په څېر ښکاره کوي ، نور حشرات پرې د ګل د پاڼې فکر کوي ، خو کله چې ورنږدې شي برید پرې کوي او خوري یې .**

[12] دا یوه لویه حشره ده ، او مخکنۍ دوه پښې یې ډېر وخت جګې نیولې وي او مختلفو رنګونو ځان رنګولي شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





### د ډارونې لپاره رنګول :

دا حالت په هغه حشراتو کې ډېر لیدل کیږي چې الله جل جلاله ورته د دفاع لپاره وسله ورکړي وي . دا وسله ددوي په رنګونو کې نغښتل شوې ده ، دوي چې کله په کوم ځاي کې شتون ولري نو نور حشرات او مرغان ترې ډاریږي او هڅه کوي چې ورته ورنږدې نه شي .

دا ډول حشرات ډېري وختونه زهرلرونکي وي او یا ډېر بد بوي لري . دببلګې په توګه د مچۍ او غومبسو نومونه یادوو چې ډېري یې ژېړې ، سره او شنه رنګونه لري.

## کربوړي څو رنګونو ته خپل رنګ بدلولي شي

موږ ټول په دې پوهیږو چې کربوړي کولي شي خپل رنګ څو رنګونو ته بدل رابدل کړي . تر دې چې په یوه ورځ کې څو ځله خپل رنګ بدل رابدلولي شي . کربوړي خپل رنګ د دفاع او ځان ساتنې په موخه بدلوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کربوړي رنګ د شين زيتوني او ژېړ بخن رنګونو ترمنځ اوړي راوړي . همدا ډول کله خړ او کله نسواري رنګ ته ځان اړوي ، او نظر حالاتو ته د کربوړي رنګ کله تک شين او کله روڼ شين يا زرغون ښکاري. الله جل جلاله د کربوړي په پوستکي کې کوچني نلونه پيدا کړي، ددې نلونو دانې د حجرو په خاليګاوو کې حرکت کوي . نو نظر د رڼا او تيارې تاثير ته د کربوړي پوستکي مختلفو رنګونو ته بدلېدلي شي . همدا راز د تودوخې درجه هم د پوستکي د ځانګړو حجرو پر جوړښتونو اغېزه کوي او کربوړي ته دا وړتيا ورکوي چې د خپل ځان د ساتنې او ددفاع په موخه مختلفو رنګونو ته خپل رنګ بدل کړي .

تاسو فکر وکړئ چې ددې الهام ورته چا کړي ؟ الله جل جلاله ډېر قادر او ښه پيدا کوونکي ذات دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځینې رنګونه وژونکي وي



هغه کیمیاوي توکي چې په ځینو خوراکي توکو کې اچول کیږي ګڼې روغتیایي ستونزې رامنځته کوي . که څه هم دا کار د انسان روغتیا ته ډېر زیان رسوي خو بیا هم ډېري کارخانې لا تراوسه په ډېرو خوراکي توکو کې رنګونه کاروي . دوي دا کار د خوراکي توکو د خوند، بوي او رنګ ښه کولو او د اوکسایډ د ضد او د خوراکي توکو د ساتنې په موخه کوي .

د طب په پوهنځي کې د ماشومانو او وراثت د څانګې ډاکټر اکرام عبدالسلام وايي :

په خوراکي توکو کې هر ډول کیمیاوي توکي او په ځانګړې توګه د ماشومانو لپاره په خوراکي توکو کې د خوند ،بوي او د ساتنې په موخه د کیمیاوي رنګینو توکو ورزیاتول ماشومانو ته یو لړ روغتیایي ستونزې پیدا کوي . دا ډول خوراکي توکي په نوموړو کې د پوستکي حساسیت او په هضمي سیستم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سخت اسهال ترڅنګ نورې ګڼې ستونزې رامنځته کوي، همدا راز کېداي شي په نومړو کې د يو لړ تنفسي او عصبي ناروغيو د راپيدا کېدو لامل هم وګرځي. هغه ماشومان چې په زياته کچه رنګين خواړه ورکول کيږي ښايي ځينې وختونه له هغوي غير ارادي حرکات صادر شي او د وينې له کمښت سره مخامخ شي. همدا راز هغه رنګين توکي چې په زياته اندازه ورکې د سرپ توکي شتون ولري، په هډوکو او وينه کې د معدني موادو د زياتېدو لامله کېداي شي د تسمم ( زهرجن کېدو ) لامل وګرځي . او په ځينو حالاتو کې دا ډول خواړه په ناڅاپي توګه هغه کروموزومونه زيانمنوي چې ارثي ځانګړنې لېږدوي او پر ځاي يې هغه ارثي کروموزومونه فعاليږي چې د سرطان لامل ګرځي .

همدا لامل دي چې د امريکا د درملو او خوراکي توکو کميسون ( F D A ) له جواز پرته د ماشومانو د لوبو د سامان په ګډون په ټولو هغو لوازمو بنديز لګولي چې مصنوعي رنګونه ورکې کارول کيږي ، تر څو ددې ستونزو د راپيداکېدو مخه ونيسي . او ځينې مصنوعي رنګونه چې خوراکي توکو ته خوند ورکولو په موخه کارول کيږي، لکه د ( کانزاترين ) ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library





چې خوراکي توکو ته سور رنګ ورکوي ،له یادو ستونزو سره سره اوس هم دوي د فعالیت جواز لري او په مختلفو خوراکي توکو کې یې کاروي . خو د څېړونکو په وینا که ددې مخه ونه نیول شي شایې له دې لا خطرناکې ناروغۍ رامنځته کړې . ځینو څېړنو ښودلې چې ددا ډول خوراکي توکو استعمال د سترګو پر اعصابو او پردو ډېرې ناوړه اغېزې لري.

همدا راز په مصر کې د غوښو ځینې تولیدوونکې چارځایونه ( کارخانې ) هم د غوښو د ساتنې او هغې ته د سور رنګ د ورکولو په موخه له ځینو توکو کار اخلي . ددې لپاره چې غوښې تر ډېرې مودې خرابې نه شي ، مشتریانو ته سرې او تازه ښکاره شي او د باکتریاوو د فعالیت مخه ورکې ونیسي دوي ځینې وختونه له نایتریت څخه استفاده کوي . چې د څېړونکو په وینا دا کار ګڼې روغتیایي ستونزې رامنځته کولې شي .

خو کله داسې هم پېښیږي چې دا ماده په غوښه کې د ( امینونو 13)په نامه له مادې سره فعالیت کوي، دا فعالیت کله

---

[13] دا یو ډول کیمیاوي ماده ده چې پروټینونه جوړوي او بدن ورته د ودې لپاره اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر زيات شي چې بيا په ( نيتروزامين ) ماده بدليږي ، او په پايله کې دا ماده د سرطان بنسټيز لامل ګرځي .

دا ماده به په شپږمه لسيزه کې په يو ميليون کې تر دوه سوه برخو پورې کارول کېده ، خو د ځينو څېړنو په پايله کې وروسته بيا دا اندازه راټيټه شوه او په يو ميليون کې تر ۲۵ برخو وکارول شوه ، او ځينو هېوادونو ددې مادې د استعمال کچه تر ۵۰ برخو پورې راټيټه کړه. خو د اسکندنافي هېوادونو په څېر بيا ځينو هېوادونو په بشپړه توګه ددې مادې پر استعمال بنديز ولګاوه .

په کار ده چې په خوراکي توکو کې د داډول توکو د زياتولو په برخه کې په پوره توګه مخنيوي وشي او که استعماليږي هم ، بايد له وړاندې يې د زيانونو او په خوراکي توکو کې د خونديتابه کچه مالومه شي، او ددې څېړنو په رڼا کې هر هېواد کولي شي چې په خپلو توليداتو کې د نوموړو توکو د استعمال په برخه کې ځينې محدوديتونه کېږدي .

بايد ووايو چې ځينې مصنوعي رنګونه هم شته چې خلک يې د سترګو يا د بدن د دنورو غړو د ښکلا لپاره کاروي ...د يادونې وړ ده چې تور مصنوعي رنګ کاربون او دتورې اوسپنې

(c) ketabton.com: The Digital Library





اوکسایډ دي، زرغون ( شین ) رنګ د کروم د یو اوکساید رنګ دي ، نسواري رنګ هم د سوځول شوي اوسپنې د یو اوکسایډ رنګ دي ، او ژېړ رنګ د اوسپنې اوکسایډ دي .

د سترګې د ځېږمې او دهغې چاپېره پوستکي د سینګار د موادو په وړاندې مقاومت نه لري، ځکه نو ځینې مېرمنې ددې پوښونو د لیرې کولو لپاره اړ کیږي ترڅو له سرو اوبو او د پارافین په نوم له موم ډوله مادې کار واخلي ، کله چې دا ډول مېرمنو ته التهاب پیدا شي نو د التهاب د درملنې په موخه له طبي مرهمونه کار اخلي ... په دې ځاي کې زمونږ مشوره داده ...

( چې کله التهاب رامنځته شو نو په سملاسي توګه دداډول وسایلو کارول ودروئ او د رانجو په ځېر له طبیعي وسایلو څخه استفاده وکړئ چې سوځوونکي کیمیاوي توکي ورکې شتون ونه لري .)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په رنګونو د درملنې په اړه :

څېړونکي وایې ، هغه بنسټیز رنګونه چې پر انسان اغېزه کوي دکمان رستم یا رنګین کمان څپې ګڼل کیږي، چې په دې کې سور ، ارغواني ، نارنجي ، ژېړ، زرغون ، آسماني ، نیلي او بنفشه یي رنګونه شامل دي .

باور کیږي چې له دې رنګونو څخه یې لومړني څلور رنګونه تر ټولو ډېر پاروونکي دي ، دا په داسې حال کې ده چې وروستي څلور رنګونه یې ډېر آراموونکي رنګونه ګڼل کیږي . د بېلګې په توګه ویل کیږي چې بنفشه یي رنګ د هرموني ګډوډیو په سمولوکې رول لري ، او نارنجي رنګ هضمي سیستم فعالوي ، دا په داسې حال کې ده چې زرغون یا شین رنګ د زړه او سږو لپاره ډېر ګټور دي . همدا راز آسماني رنګ د تنفسي ستونزو په حل کې مهم رول لري .

د واشنګټن آیالت په تاکوما سیمه کې د امریکې د ټولنیزو څېړنو په انسټیټیوټ کې څېړونکي ډاکټر الکسندر شاوس وایې : کله چې د رڼا انرژي زموږ بدنونو ته ننوځي ، نو په سملاسي توګه صنوبري ( pineal gland ) او نخامي ( )

(c) ketabton.com: The Digital Library





14(pituitary gland غدې راپاروي. د غدو له راپارېدو وروسته ځانګړي هرمونونه افرازوي ، او په همدې ترتیب زمونږ په بدن کې یو لړ فیزیولوجي عملیات رامنځته کیږي . نو ځکه دا روښانه کیږي چې رنګونه زمونږ په فکرونو ، سلوک او مزاج اغېزه کوي .

## رنګونه ځینې راښکونکي او پاروونکي وي او ځینې یې سلبي بلل کیږي

**پاروونکي رنګونه** : ددې رنګونو ځانګړنه داده چې دا ډول رنګونه تیزابي فعالیت لري او پاروونکې وړانګې لري . لکه سور رنګ ، له سور څخه راتېیت رنګ ، نارنجي رنګ ، ژېړ او تور رنګونه .

**سلبي رنګونه** : دا ډول رنګونه د القلي ځانګړنه لري ، یانې ددې رنګونو وړانګې سړې او آراموونکې وي .

---

[14] د مغزو په منځني ټکي کې یوه کوچنۍ ماده چې د هرمونونو په افرازولو سره د بدن فعالیتونه او وده کنټرولوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانوي ساینس پوه ( تیو جیمیل ) پر دې ټینګار کوي چې ډېرې اروايي او عضلاتي ناروغۍ کېداي شي د کور ، دفتر، موټر او نورو ځیزونو د رنګونو د بدلولو په پایله کې ورغول شي . ډېرو ساینسي څېړنو ثابته کړې چې رنګونه د ټولو ناروغیو درملنه کوي .

رنګونه الیکترولیکي څپې لري ، دا څپې نظر رنګونو ته جلا جلا اوږدوالي لري ، او په مستقیمه توګه د انسان پر عصبي سیستم اغېزه کوي او په همدې ترتیب یې د بدن په مختلفو غړو اغېزې راڅرګندیږي . او هرڅومره چې دا اغېزه کمزورې وي ، خو په دوامداره توګه که ترې کار واخیستل شي نو پر انسان یې اغېزه ښکاره مالومیږي ...... که یو انسان د مختلفو څپو له رڼاګانو ګټه واخلي نو مالومه ده چې دا څپې به جلا جلا اوږدوالي لري ، نو د هرې رڼا اغېزه به هم په لاندې توګه وي

:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سره رڼا

ډېري وختونه ددې رڼا لامله انسان له هیجانتوب سره مخامخ کیږي ، او دا چې سور رنګ ډېر پیاوړي او غښتلي دي نو له دې سربېره د بدن د تودوخې درجه هم یو څه لوړوي ، نو پر دې بنسټ زموږ مشوره داده چې د سره رنګ څپو ته ډېر وړاندې نه شئ .

د بریتانیې ساینس پوه ( تیوجیمیل ) وایې چې د رنګونو په اړه ترسره شویو څېړنو ښودلې چې سور رنګ د سترېا ، تمبلی ، د وینې ټیټ فشار لپاره غوره درملنه ده، او د اشتهاء د راوستلو لپاره هم ډېر ګټور دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





سور رنګ د وینې د کمښت ښه درمل ګڼل کیږي ، او په ټولیز ډول له هغو کسانو سره مرسته کوي چې د بدن له کمزورتیا سر ټکوي .ددې سربېره سور رنګ د وینې د جریان په فعال ساتلو کې مهم رول لري او د ډېرې مودې لپاره د تمبلۍ ، سټریا ، او د خوب په تښتولو کې مرسته کوي .همدا راز دا رنګ د انسان د هډوکو د کمزورتیا مخه نیسي ، او د ټپونو ( زخمونو ) په رغولو کې ورسره ډېره مرسته کوي.

له دې سربېره سور رنګ د پوستکي د تخریش او خارښ لپاره غوره درمل دي او د سوځېدلو ځایونو په درمال کې مهم رول لري . دا رنګ د سختې سرې تبې او شري لپاره هم غوره درمل پېژندل شوي دي. سور رنګ دزړه ټکان لا فعالوي او مغزو ته لا زیات فعالیت ورکوي او د تنفس اندازه هم پیاوړې کوي. همدا راز دا رنګ د جنسي کمزوریو لپاره غوره درمل ګڼل کیږي ، د مثانې التهاب له منځه وړي او د پوستکي د ټولو ناروغیو لپاره غوره درمل ګڼل کیږي .

هغه کسان چې د بدن د غړو حرکات یې سم نه وي ، باید په داسې خونو کې له ناستې ډډه وکړي چې په سره رنګ رنګ شوي وي ، له سرو جامو اغوستلو دې هم ډډه وکړي . او

(c) ketabton.com: The Digital Library





همدا راز هغه کسان چې د وينې له لوړ فشار يا د وينې له ټيټ فشار سر ټکوي هم بايد په زياته اندازه د سره رنګ له استعمال څخه ډډه وکړي .

سور رنګ درناروغيو په وړاندې د بدن مقاومت زياتوي ، په امريکا کې د ( هيلت لاين ) مجلې په يوه راپور کې متخصصين په دې اند دي چې د سره رنګ جامې اغوستل انسان ته په خپل نفس باندې د باور الهام ورکوي. او کله چې انسان د ستړيا او نا آرامی احساس وکړي ، دا رنګ ورته د فعاليت او آرامتيا احساس وربخښي. همدا راز متخصصينو په دې راپور کې يادونه کړې چې سور رنګ يو رومانسي ، احساساتي او عاطفي رنګ ګڼل کيږي . ځکه چې دا رنګ د بدن انرژي او تودوخه زياتوي.

ـ انفراريډ ( له سور راټيټ رنګ ) : دا رنګ د وينې د سرو کروياتو په بيا رغولو کې ډېره مرسته کوي، همدا راز دا رنګ د اعصابو د آرامتيا لپاره هم کارول کيږي ، او د وينې د کمښت او د نري رنځ د ناروغيو لپاره غوره درمل ګڼل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





## نارنجي رنګ

دا رنګ د سترګیا په له منځه وړلو کې مهم رول لري ، په ټولیز ډول دا رنګ ډېر پارووونکي رنګ ګڼل کیږي . او په انسان کې د نا آرامۍ احساس وژني . دا رنګ دستوماني ، خوب ، تشویش، ناهیلي او د ټولو تورو احساساتو په له منځه وړلو کې مهم رول لري.

نارنجي رنګ زړه ته ځواک وربخښي او د زړه ناروغۍ رغوي، ټولې عصبي ناآرامۍ له منځه وړي او د سترګو د سپینې برخې ( قرنیې ) د التهاب په‌ګډون په ټولیزه توګه د سترګو د التهاب غوره درمل ګڼل کیږي .

نارنجي رنګ د نورو ټولو رنګونو په پرتله فعال رنګ ګڼل کیږي، چې د اشتهاء په راوستلو کې مهم رول لري.هغه ناروغان چې له بې اشتهایي شکایت کوي ، دهغوي مېزونه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نارنجي رنګه ټوټو پوښل کیږي. ځکه چې دا رنګ په ځانګړې توګه د ناروغانو په اشتهاء راوستلو کې له هغوی سره مرسته کوي . نارنجي رنګ د انسان د هضمي او تنفسي سیستم په پیاوړتیا کې مهم رول لري .**

**هغه کسان چې په کور یا دفتر کې له کاره وروسته ستړې کیږي ... هغوي ته دا مشوره ده ، چې په داسې ځایونو کې کښېني چې په نارنجي رنګ باندې سینګار شوی وي . دا رنګ یې آراموي ... او د جوتې مخه نیسي .**

**نارنجي رنګ د اپنډیکس په مخنیوي ، دپښتورګو او د تریخې د تیږو په له منځه وړلو کې مهم رول لري ، او د زړه ټکان پیاوړي کوي .**

**دا چې دا رنګ د اشتهاء په خلاصون او د هضمي سیستم د پیاوړتیا په برخه کې مهم رول لري ، نو ځکه تري باید په کورونو کې د ډوډۍ د خوړلو په خونو کې ډېره ګټه واخیستل شي .**

**له دې ټولو سربېره نارنجي رنګ په جنسي غریزه هم تاثیر کوي، او د ښځو او نارینه وو جنسي ځواک لا پیاوړې کوي .**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژېړ رنګ

دا رنګ چې د مغزو حجرو ته ننوځي نو په پایله کې ذهني پیاوړتیا او فعالیت رامنځته کوي ، ځکه نو دا رنګ د هوښیارتیا او ذکاوت کچه لوړوي .

دا رنګ د نري رنځ د کموالي لپاره او د لمفاوي15 غدې د پیاوړتیا لپاره هم کارول کیږي . له دې سربېره ژېړ رنګ د شکرې او ځګر ناروغیو لپاره هم غوره درمل پېژندل شوي دي او په هضمي سیستم کې د رامنځته شویو ستونزو په له منځه وړلو کې مهم رول لوبوي. همدا راز ژېړ رنګ د مرۍ او سترګو د ځینو ستونزو لپاره غوره درمل دي او د انسان باور پر خپل ځان زیاتوي .

---

[15] لمفاوي غده ، په بدن کې د وینې سرې حجرې تولیدوي ، او له بدن سره د ناروغیو په مقاومت کې مرسته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





څېړنو ښودلې چې ژېړ رنګ د ناروغیو په وړاندې د بدن مقاومت پیاوړي کوي ، او هغه کسان چې ډېر عمر لري په هغوي کې د کالسیوم کچه هم لوړوي . د یادونې وړ ده چې په حقیقت کې ژېړه رڼا شتون نه لري ، خو د سرې او شنې رڼاګانو له یوځای کېدو څخه انسان د ژېړ رنګ احساس کوي.

ــ دا چې ژېړ رنګ د انسان ماغزه فعالوي ، عقل یې پیاوړي کوي ، ذهن یې پاکوي او له جسمي او عصبي ستړیا وروسته ورته د آرامتیا احساس وربخښي ، همدا لامل دي چې یاد رنګ د پکري پیاوړتیا ، هوښیارتیا ، مستۍ ، خوشالۍ ، نوښت ، او په عین وخت کې د چټکتیا سمبول ګڼل کیږي .

ـ ژېړ رنګ پر بنکریاس ، ځګر او توري باندې ډېره اغېزه کوي ، او د دوي په جوړښت او بیا رغولو کې مرسته کوي . ژېړ رنګ د ټوخي په ګډون په تنفسي سیستم کې د نورو ګڼو ناروغیو د درملنې لپاره غوره درمل ګڼل کیږي .

ــ د حاملو مېرمنو لپاره ددې رنګ کارول ښه نه دي، دا ځکه چې دا رنګ د ښنتورګو په کار باندې اغېزه کوي، ددې رنګ اغېزه تر بل هر څه په حافظه باندې زیاته ده ، هر کله چې دې وغوښته یو څه ځان ته راپه یاد کړې ، نو په ژېړه پاڼه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library





ولیکه. او ښایې همدا ددې لامل وي چې په ډېرو دفترونو کې د نوټ یا د یاداښت لیکلو لپاره ژېړرنګه کوچني کاغذونه کارول کیږي ، او ددفتر کارکوونکي یې د ځینو مهمو کارونو د رایادولو لپاره په خپل دفتر کې پر مېز، کمپیوټر او یانورو مخامخ شیانو باندې نښلوي .

ـ ژېړ رنګ د وینې فشار لوړوي او د زړه ټکان چټکوي ، خو د زړه د ټکانو په چټک کولو کې د ژېړ رنګ په پرتله سور رنګ ډېر اغېزمن دي . ژېړ رنګ انسان راپیداروي او سټریا یې ختموي .

ددې سربېره په درقي غدې16 او قصبة الري ( سره مرى ) باندې ډېر مثبت اغېز کوي ، عضلاتي او عصبي سیستم پیاوړي کوي .

هغه کسان چې له سختې هاضمې او نیم سیري څخه سرټکوي او ډېر ژر سټرې کیږي ، د رنګونو متخصصین ورته مشوره ورکوي ترڅو له ژېړ رنګ څخه په زیاته اندازه استفاده وکړي

.

[16] درقي غده د ستوني په مخکنۍ برخه کې یوه غده ده چې د وینې فعالیت او ټګ راټګ کنټرولوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شين ( زرغون ) رنګ

دا رنګ تر بل هر رنګ زيات په عصبي سيستم باندې مثبت اغېز کوي، د دردونو د آراملو لپاره ، د وينې د فشار د لوړوالي ، او د اعصابو د نا آرامتيا لپاره دا رنګ انسان ته ډېره ګټه رسوي .

دا رنګ د معدې د خرابوالي ، انفلونزا او ملاريا په مخنيوي کې ډېره مرسته کوي .دا چې شين رنګ انسان ته د توازن او آرامتيا احساس ورکوي ، نو ځکه دا رنګ د زړه د ناروغيو لپاره غوره درمل ګڼل کيږي ، او همدا لامل دي چې دا رنګ په ډېرو هغو ځايونو کې کارول کيږي چې شور زيات وي .

ـ کله چې کوم انسان په سرطان ناروغۍ اخته وي دا رنګ ورسره د سرطان د دردونو په آراملو کې مرسته کوي. د انسان په ژبه او مغزو باندې ډېره اغېزه کوي. او تر بل هر رنګ زيات د عصبي نا آرمتيا لپاره غوره درمل ګڼل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شین رنګ انسان ته ورته ورکوي چې په متوازنه توګه خپل کار پرمخ بوځي، او د عصبي هیجانیتوب مخه یې نیسي. هغه ستونزې چې د عصبي سیستم د مختل کېدو په پایله کې په معده کې راپیدا کیږي شین رنګ یې په رغولو کې ډېره مرسته کوي.

ددې لپاره چې انسان له آرام عصبي سیستم څخه برخمن او د روغ صحت خاوند شي ، د رنګونو د پوهانو په وینا باید وخت نا وخته په زرغونو او شنو سیمو کې وګرځي .

## له زرغون نه آخوا رنګ

دا رنګ میکروب وژونکي رنګ ګڼل کیږي ، او د ټپونو په رغولو کې مهم رول لري . ددې رنګ وړانګې د بل هر رنګ له وړانګو پیاوړې دي ... لکه څنګه چې یادونه وشوه ، نوموړي رنګ د باکتریاوو وژونکي درمل ګڼل کیږي ، څکه دا رنګ د لوي هرم په داخل کې هم کارول شوي، له دې سربېره ټول هغه څیزونه چې د میکروبونو د وژلو لپاره جوړول کیږي له دې رنګ څخه ورکې کار اخیستل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اًسماني رنګ

څېړنو ښودلې چې اًسماني رنګه رڼا د سرطاني او باکتريايي حجرو د ډېرېدو مخه نيسي . همدا راز اًسماني رنګ خوراکي توکي تر ډېرې مودې ساتي او نه يې پرېږدي چې ژر خراب شي . اًسماني رنګه وړانګې د روماتيزم په ښه کولو ، د وينې بهېدنې په درولو ، د سوځېدلي ځاي په رغولو، په تنفسي سيستم کې د رامنځته شويو ستونزو په له منځه وړلو، او د ستوني د التهاب په درملنه کې مهم رول لري . دارنګ انسان ته له ستړيا دمه کوي، او عصبي سيستم يې پياوړي کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسماني رنګه جامې اغوستل ، یا په زیاته کچه له آسماني رنګ څخه ګټه اخیستل انسان ته په خپلو احساساتو باندې د واک وړتیا ورکوي ، ځواک ورته وربخښي ، ذهن او بدن یې آراموي .

ــ هغه کسان چې د وینې له لوړ فشار څخه سر ټکوي او ډېر ژر عصباني کیږي آسماني رنګ ددوي په آرامولو کې مرسته کوي، دا رنګ یې د وینې فشار او دعصبانیت کچه راټیټوي. د یوې تجربې له مخې چې په دې رنګ ترسره شوې وایې چې یو شمېر سرزوري زده کوونکي کوچنیان په داسې ټولګي کې کښېنول شول چې په آسماني رنګ رنګ شوي وو، په پای کې ثابته شوه چې همدا زده کوونکي یو څه آرام مالومېدل او د سرزورۍ کچه یې راټیټه شوې وه .

ددې ترڅنګ تجربو ښودلې چې آسماني رنګ فضا نرموي او هغه کسان چې په ګرمو او مرطوبو سیمو کې ژوند کوي له هغوي سره د هواء په سوړوالي کې مرسته کوي . دارنګ د ټپونو او ملا د دردونو په راکمولو، د روماتیزم او د ګنو التهابونو او د شرياني ناروغیو په رغولو کې مرسته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ هغه کسان چې له عصبانیت او بې خوبۍ شکایت کوي ، کارپوهان ورته ددې رنګ په کارولو ټینګار کوي. دارنګ د زړه او سږو پر کار باندې ډېره مثبته اغېزه کوي، هغه کسان چې له سابندۍ ، د زړه له ناروغۍ او عصبي کشش سره لاس ګرېوان وي، دا رنګ ورسره له دې ستونزو څخه خلاصون په برخه کې ډېره مرسته کوي . خو هغه کسان چې ډېر اَرام اعصاب لري ،د رنګونو متخصصین په دې اند دي چې له اَسماني رنګ څخه ډېره ګټه وانه خلي ، ځکه اَسماني رنګ په کمان رستم رنګونو کې ترټولو سوړ رنګ ګڼل کیږي. ددې ترڅنګ هغه کسان چې د بدن انرژي او ځواک یې کم وي ، هم باید په زیاته کچه له اَسماني رنګ څخه ډډه وکړي ، ځکه دا رنګ ډېري وختونه د انسان ژوندۍ ارادې مړې کوي یا یې د لټۍ لامل ګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بنفشه يي رنګ

بنفشه يي رنګ د زړه عضله پياوړې کوي ، د حجاب حاجز17 حرکات تنظيموي او د حجرو عمر زياتوي. دا رنګ د بندونو ( مفصلونو ) د التهاب په حالاتو کې او د ولادت پرمهال د دردونو د کرارولو لپاره هم کارول کيږي . او کله کله د زرغون او ژېړو رنګونو سره يوځاي د پوستکي دسرطان د درملنې لپاره هم کارول کيږي. د اروا پوهنې په ډګر کې له بنفشه يي رنګ څخه د ځينو اروايي او ذهني ستونزو د درملنې لپاره هم کار اخيستل کيږي .

---

[17] حجاب حاجز ، پردې ، د بدن هغه عضله چې سينه د بدن د ښکتنۍ خوا څخه بېلوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دا رنګ د ناروغیو د انتقال مخه نیسي ، او د سر د پوستکي د ناروغیو او د نیم سیري د درملنې لپاره غوره درمل پېژندل شوي دي . دا ډېر آراموونکي رنګ دي او په ځانګړې توګه د عصبي او اروايي آرامتیا لپاره ډېر اغېزمن دي. د یادونې وړ ده چې له اندازې زیات استعمال څخه یې باید ډډه وشي. دا رنګ په ښي غوږ ، غاښونو ، هډوکو، مثانه او توري باندې ډېرې اغېزې کوي، د معدې ناروغي رغوي او د ډېرو حجرو د خرابېدو مخنیوي کوي. ددې هر څه سره سره دا رنګ بدن ته دا وړتیا ورکوي چې له خوراکي توکو سمه استفاده وکړي .

## د بنفش نه اًخوا یا ( ما وراء بنفشه )

دا رنګ د هډوکو ناروغي رغوي ، او د نرمو هډوکو په درملنه کې مهم رول لري . خو هغه کسان چې د زړه او سږو په ناروغیو اخته وي دا رنګ ورته ښایې زیان ورسوي، د بنفشې نه اًخوا رنګ د سرطان د درملنې لپاره نه کارول کیږي خو د یادونې وړ ده چې د یو شمېر خطرناکو او وژونکو میکروبونو پاکوونکي رنګ ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګلابي رنګ

دا پر بدن ډېر نرم اغېز کوي او د عضلاتو په آرامېدو کې مهم رول لري، تجربو ښودلې ، هغه کسان چې ډېر سرزوري وي او ډېر ژر په سختۍ او تشدد لاس پورې کوي ، ګلابي رنګ يې آراموي . ډېري وختونه دا رنګ په محبسونو ، روغتونونو، ځېرنيزو مرکزونو او د روږدو (معتادينو ) د درملنې په مرکزونو کې کارول کيږي . ګلابي رنګ د خوب د خونې لپاره ډېر وړ رنګ دي ، دا ځکه چې ګلابي رنګ يو ډول رومانتيکه فضاء رامنځته کوي .

## پيروزه يي رنګ

پيروزه يي رنګ د تبې په راکمولو کې مهم رول لري ، ځکه دا رنګ انسان ته د يخوالي احساس وربخښي ، او همدا لامل دي چې په روغتونونو کې ترې ډېره ګټه اخيستل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# تور رنګ

دا رنګ د کمان رستم په رنګونو کې شتون نه لري ، او د سپین رنګ ضد دی . تور رنګ رڼا راکشوي ، هرڅه پټوي او د بدن غړي په خپل واک کې نیسي ... یاد رنګ د بدن غړي آراموي او ژر ورته خوب ورولي .

دا رنګ اشتهاء کموي . د رنګونو متخصصین وايې : که غواړئ وزن مو کم کړئ ، نو د ډوډۍ خوړلو لپاره تور دسترخوان وکاروئ .

# نیلي ( شین بخن ) رنګ

ددې رنګ اغېزې هم آسماني رنګ ته ورته اغېزې دي، او د حافظې په پیاوړتیا کې مهم رول لري. یاد رنګ د کولمو د مختلفو ناروغیو لپاره غوره درمل ګڼل کیږي . په شریانونو او تنفسي سیستم باندې اغېزه کوي او ټولې تنفسي ناروغۍ رغوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین رنګ

په دې رنګ کې د کمان رستم رنګونو ټولې رڼاګانې رانغښتي دي ، ډېري هغه کسان او په ځانګړې توګه نوي زیږېدلي ماشومان چې د ژېړي ( صفراء ) په ناروغی اخته وي ، دا رنګ ورته ډېره ګټه رسوي . ددوي د درملنې لپاره ډېره شدیده او تېزه سپینه رڼا د ځګر په پاسنی برخه باندې متمرکزه کیږي او په پایله کې ناروغ رغیږي .

هغه کسان چې د سږو په سل باندې اخته وي ، ډاکتران په دې ټینګار کوي چې د لمر پیاوړې رڼا ته وګرځي او سپین رنګه جامې واغوندي .

همدا ډول سپین رنګ د بدن غړي پیاوړي کوي او د ناروغیو په وړاندې د بدن مقاومت زیاتوي .

# نسواري رنګ

نسواري رنګ د ملا د دردونو په کمولو او د بدن د پوستکي په ساتلو کې مهم رول لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسان پر رواني حالت د رنګونو اغېزه

د رنګونو په اړه په مختلفو هېوادونو کې ګڼې تجربې او څېړنې ترسره شوي دي ،څېړنو ښودلې چې هر انسان ځانګړي رنګونه لري ، له دې رنګونو څخه یې ځینې انسان فعالوي او په حرکت یې راولي ، خو ځینې نور رنګونه یې بیا آرموونکي بلل کیږي .

د ( ایها ) د انجونو د ښوونې او روزنې پوهنځي د اروا پوهنې د څانګې مرستیاله استاذه ډاکتره نجوي بنیس داسې وایې :

( د انسان چاپېره رنګونه په مستقیمه توګه دهغه په روان اغېز کوي، ځینې ناروغی چې د بنفشه یي ناروغیو په نامه یادیږي رنګونه یې تر بل هر څه ښه درملنه کولي شي )

(c) ketabton.com: The Digital Library





اروپوهان په دې توانېدلي چې دانسان د صفاتو، خويونو ، روغتيايي حالت ، ميلان ، مزاج ،سلوک ،او د هغه دخوښې وړ رنګ ترمنځ اړيکې په ګوته کړي . د بېلګې په توګه ددې لپاره چې ناروغ له واقعيته ليرې وي او ډېر تشويش ونه کړي ، د عقلي او اروايي ناروغيو متخصص رنځورپوهان په خپلو روغتونونو کې روڼ بنفشه يي رنګ کاروي. ځکه دا رنګ له انسان سره د عصبانيت او هيجانيتوب په مخنيوي کې مرسته کوي .

د رنګونو علم پرمختګ وکړ ، او يوازې په دې يې بسنه ونه کړه چې د ځينو ناروغيو درملنه وکړي . بلکې د رنګونو علم ځانته يوه نوې بڼه غوره کړې او کولي شي چې د ميکروسکوب په واسطه د ميکروبونو او باکترياوو رنګونه هم مالوم کړي ... ددې علم په برکت سره کولي شو هغه رنګونه هم مالوم کړو چې دا جراثيم او باکترياوې راپاروي او په فعاليت يې راولي ، او يا يې د زيان مخه نيسي او ورڅخه راپيداشوې ناروغۍ درملوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لیزر ... جادویي کونجي

د لیزر کلمه د انګلیسي د څو کلمو مخففه کلمه ده چې عبارت دي له :

Light Amplification Stimulated Emittion Of Radiation

د قاهرې پوهنتون د سترګو د جراحي د پوهنځي استاذ ډاکتر محمود صلاح الدین مصطفي په خپل کتاب د سترګونو رازونه ( اسرار العیون ) کې د لیزر مانا داسې کوي :

لیزر د رڼا په واسطه د یوې ټاکلې مادې راپارولو ته وایې . دا د یو ټاکلي رنګ درلودونکې وړانګې لېږدوي . دا وړانګې د ځینو ځانګړي اوږدوالي لري چې د جراحي په څېر د درملنې او له ناروغیو څخه د ژغورنې په موخه کارول کیږي ... دا وړانګې په سترګو نه لیدل کیږي .

پټه دې پاتې نه وي چې لیزر د انسان په ژوندانه کې ډېر ارزښت لري ، له لیزر څخه د ساینس په ګڼو برخو کې ګټه اخیستل کیږي ، همدا راز د ټولنو د پرمختګ او د انسان د هوساینې ، آرامتیا او روغتیا لپاره ډېر ګټور دي .

د لیزر وړانګې د طب ، صنعت ، کرنې او نورو ډګرونو کې هم ډېرې ګټې لري . لیزر او ساینسي پرمختګ انسان ته دا وړتیا ورکړې چې یا انسانیت د هلاکت او تباهي کندې ته وغورځوي ، او یا ورته هوساینه او لا پرمختګ ورکړي .

## اًسماني رنګ لرونکي لیزر :

د لیزر هغه وړانګې چې د سترګو د درملنې لپاره کارول کیږي د ارګن[18] او د کریپټن غازونونو په نامه یادیږي .

## ددې رنګ لیزر ځانګړنې :

دا وړانګې اًسماني رنګه وي . په سترګه کې ټاکلي هدف باندې په دقیقه توګه تمرکز کوي . حجم یې ډېر کم دي یانې له ( ۵ ــ ۱۰ ) میکرون پورې حجم لري .او یو میکرون (۰،۰۰۱ مللم ) دي . ددې وړانګو کنټرول ډېر دقیق دي . د سترګو د پردو په ګډون ، دا لیزر د سترګو د ډول ډول ناروغیو د درملنې لپاره کارول کیږي،د لیزر په استعمال سره ، انسان له طبي توشمو ( عینکو )کارولو ته اړتیا نه پیداکوي .

[18] ارګن ، یو بې رنګه بې بویه غازي عنصر چې په هوا کې پیداکیږي او د رڼاګروپونه ترې جوړکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سور رنګ درلودونکي لیزر :

هغه لیزر چې سرې وړانګې لېږدوي .دا لیزر د ځینو نښو ، سرو خالونو او په بدن کې د ځینو نورو عیبونو د درملنې لپاره له ۱۹۷۰ میلادي کال راپدېخوا کارول کیږي . او ډاکتران په دې اند دي چې دا لیزر د لویانو په پرتله په ماشومانو کې ډېر اغېزمن او په ښه توګه کار کوي . خو دا رنګ تېونه ، د پرهار پاتې نښې او ځینې مورزادي پاتې شوې نښې یا د تیونو د جراحي نښې له منځه نه شي وړلي .

## د زرغونې ( شنې ) رڼا درلودونکي لیزر :

د لیزر دا رنګه رڼا کولي شي د وینې زیانمن شوي رګونه یا شریانونه او له مخ ، لاسونو او څټ څخه خراب شوي وریدونه له منځه یوسي .

لیزر نه یوازې دا چې دطب په برخو کې کارول کیږي او زیاتې لاسته راوړنې لري ، بلکې لیزر د پرمختګ په نورو ډګرونو کې هم کارول کیږي او په هره برخه کې یې خپله وړتیا ښودلې او لاسته راوړنې یې پټې نه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اسیوط پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې د کیمیاء استاذ ډاکتر محمود ابوزید په هغه څېړنه کې چې د اهرام په جریده کې د اپریل د میاشتې په ۱۴ مه نېټه په ۱۹۹۵ کال کې خپره شوې وایې چې : لیزر په هغو رنګونو هم کارول شوي چې په نوې او پرمختللې ټکنالوجي کې تري ګټه اخیستل کیږي، لکه د لیزر رنګین توکي، او د انفراریډ وړانګو ته ورته د رنګ مواد .

د یادونې وړ ده چې رڼا په دې وروستیو کې د حراجي عملیاتو داسې مهمه او اغېزمنه اّله ګڼل کیږي چې له وینې تویېدو او د زخم د راپیدا کېدو پرته ګڼ عملیات په بریالیتوب سرته رسوي. نه ورکې د بدن کوم ځاي پرې کیږي او نه له عملیاتو وروسته دکوم ځاي ټکور او پټۍ ته اړتیا لیدل کیږي . ساینس پوهان د عملیاتو دا وسیله د ( رڼا چاړه ) په نامه یادوي . دا په دې مانا چې د عملیاتو په پایله کې نه درد پېښوي او نه وینه تویوي . په راتلونکې کې کېداي شي په زیاته کچه د جراحي عملیاتو پر مهال د جراحي چاړې پر ځاي د رڼا له چاړو ګټه واخیستل شي . نو ځکه ویلي شو چې د طب په برخه کې د لیزر د بریالیتوب وروسته لیزر د درملنې مهمه وسیله ګڼل کیږي او ښایې رول یې تر بل هرڅه زیات وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





**له دې اوږد ې څېړنې وروسته دې**

**پايلې ته رسيږو چې :**

**د اسمان او د سمندر له آسماني رنګه فلسفه رازيږيدلې . د شنو او زرغونه ځنګلونو له رنګونو څخه لومړي انسان دا زده کړه چې ځنګه يې له مېوو ګټه واخلي ... انسان د اور د د سرو لمبو څخه د سوځېدلو درد وپېژانده ، او د شپې په توره تياره کې يې له اور سره نږدې د ګرموالي ، او د ښکاري حيواناتو څخه يې د خونديتوب احساس وکړ .**

**.... نو بايد ووايو چې له رنګونو سره انسان پر ځمکه ژوند وپېژانده ، او له طبيعت څخه يې ځانته ځينې رنګونه د مينې لپاره او ځينې يې د جنګ لپاره وټاکل.**

**نو اوس پريکړه پر تاسو !**

**آيا هغه ورځ به راشي چې په رنګونو کې د تخصص لپاره ځانګړي پوهنځي او پوهنتونونه ولرو ؟ !**

**او آيا راتلونکې پېړۍ به په رنګونه درملنه تر بل هر څه لويه لاسته راوړنه نه وي ؟ !!**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**